# د جانان خیال

ډاکټر باقي دُراني

# د جانان خیال

ډاکټر باقي دُرانی

صحاف نشرياتي مؤسسه

کوټه

د دې کتاب حقوق د لیکوال خپل دي

د کتاب نوم : د جانان خیال
لیکوال: ډاکټر باقي درانی
+۹۲۳۰۰۳۸٦۸٦۱۸
drbaqidurrani@gmail.com
لومړے چاپ
د چاپ کال : ۲۰۱۸ زېږده
د چاپ ځای : الحق پریس لاهور
د چاپ شمېر زر ۱۰۰۰ ټوکه
د پښتی انځور: سېدال
بیه : دوه سوه کالداري

## دلیکوال کتابونه:


۱- پښتانهٔ د تهذیب په څپو کې
۲- د فکر تال [دسرېتوب فلسفه]
۳- انساني ذهن او تخیلقي تنده
۴- د احساس پرتَو
۵- د جانان خیال

چاپوونکې او خپروونکې صحاف نشریاتي مؤسسه کوټه

فون ۰۸۱۲۶۶۴۲۳۲

# ټرون

دهغو ټولو پاشلو مینه پالو په نامهٔ
کوم چي دجنګ ځپلو وګړو په زړونو کي
د میني او امید ولولې راپاڅوي لګیا دي



پروفیسر ډاکټر عبدالباقي دُراني

| شمېر | لړ لیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سرلیک | ۹ |
| ۲ | ربه ! | ۱۳ |
| ۳ | د میني لېوني لره تسکین د اضطراب | ۱۶ |
| ۴ | امن | ۱۹ |
| ۵ | یوه شپېه د پسرلي ده، زندګي ده مینه | ۲۱ |
| ۶ | منظر | ۲۳ |
| ۷ | ستا په زړه کي چي ایسار دے هغه څوک دے | ۲۵ |
| ۸ | مروره ! مروره !! | ۲۷ |
| ۹ | پاته جنون دے نهٔ سودا ده په دې ښار کي پاته | ۳۱ |
| ۱۰ | پروِن ، نن او سبا | ۳۳ |
| ۱۱ | یو نسبت لري افکار او منزلونه | ۳۷ |
| ۱۲ | مهٔ وېرېږه ! | ۳۹ |
| ۱۳ | ځواني هیلي په ګډا دي یوه ښېل شانتي ښکلا ده | ۴۲ |
| ۱۴ | تصوّر | ۴۵ |
| ۱۵ | دا چي مغل غوندي خَزه کي سره غلي نهٔ دي ؟ | ۴۸ |
| ۱۶ | نیمګړتیا | ۵۱ |
| ۱۷ | شاته پاته شوم له کوچه دماشوم په شان روان یم | ۵۳ |
| ۱۸ | د بخت هما | ۵۵ |
| ۱۹ | توره شپه ده لاره اړه | ۵۷ |
| ۲۰ | بهانده روده! | ۵۹ |
| ۲۱ | ژبه ګونګۍ شوندې پرې پرې په انتظار ولاړ یم | ۶۱ |
| ۲۲ | اندېښنې | ۶۳ |
| ۲۳ | له کوره کوچ کړي له دیاره سرګردان دي یاران | ۶۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۴ | لېونے خيال | ۶۷ |
| ۲۵ | حقيقت او پر ګمان باندي يې شک وي | ۶۹ |
| ۲۶ | يادونه | ۷۱ |
| ۲۷ | کښته ځاه برّه اسمان دے دلته زۀيم هلته تۀ يې | ۷۳ |
| ۲۸ | هيله | ۷۵ |
| ۲۹ | سرونه سره ورته دي ذِهنونه سره ورته | ۸۰ |
| ۳۰ | بار به يوسم په اوږو کي | ۸۲ |
| ۳۱ | نۀ محفل شته نۀ رڼا د څراغونو | ۸۵ |
| ۳۲ | منزل | ۸۷ |
| ۳۳ | ر يشتيا به وايي خو مسکن د بلا نۀ لټوي | ۹۰ |
| ۳۴ | لمر | ۹۲ |
| ۳۵ | زۀ له قافلې نه بهر نۀ يمه | ۹۳ |
| ۳۶ | کاڼی | ۹۵ |
| ۳۷ | کډي لاړې له دامانه | ۹۷ |
| ۳۸ | لکه شپون | ۹۹ |
| ۳۹ | کله تندے کله ځګر وهمه | ۱۰۱ |
| ۴۰ | د شهباز وينا | ۱۰۳ |
| ۴۱ | سوړ زمستان دے خاموشي ده اشنا | ۱۰۵ |
| ۴۲ | سپرليه ! | ۱۰۷ |
| ۴۳ | څوک وايي درد دےجانان څوک وايي درمان دے | ۱۰۹ |
| ۴۴ | يو خاموش غوندي آواز | ۱۱۱ |
| ۴۵ | دسرمستۍ په کېف اوحال پوهېږم | ۱۱۴ |
| ۴۶ | سندرغاړي ته | ۱۱۷ |

۴۷ د ځراغونو تر رڼا پوري مي پرېږده اشنا ۱۱۹
۴۸ ښکلي انجلۍ ! ۱۲۱
۴۹ نۀ په سپوږمۍ باور لرو او نۀ په ستورو باور ۱۲۳
۵۰ باران ۱۲۵
۵۱ د ښار حاکم د ورور وژني سلسله جوړوي ۱۲۷
۵۲ مشوره ۱۲۹
۵۳ له خپل وطن نه د پرَدو د جنګ د پاره وځي ۱۳۲
۵۴ ژوندون ۱۳۴
۵۵ لاس د اشنا ونيسه په مينه لاره وباسه ۱۳۵
۵۶ توري تيارې لره رڼا واخله ۱۳۷
۵۷ څوک خو دے ۱۳۹
۵۸ غبرګي پښې دواړهٔلاسونه راتړي وايي انصاف دے ۱۴۱
۵۹ دومره واټن دے له سکوت نه تر ګفتاره پوري ۱۴۳
۶۰ خوب ۱۴۵
۶۱ جمات مات دے حجره ورانه راشه جوړيې کړو جانانه ۱۴۷
۶۲ بيا اور پُوکی دعا غواړي ۱۴۹
۶۳ د پېريانو اثر ۱۵۱
۶۴ کوم پښتون کوم مسلمان او کوم انسان يې ۱۵۳
۶۵ انتظار دي کله دومره مستي راوړي خمار راوړي ۱۵۵
۶۶ بېره د شېطان ۱۵۷
۶۷ ګوره توپک زياته ايږدم اوس له دې کلي نه ځم ۱۵۹

| | | |
|---|---|---|
| ۶۸ | یو طرف ته پاڼ دے بل ته پړانګ ورته غړېږي | ۱۶۱ |
| ۶۹ | کور | ۱۶۳ |
| ۷۰ | لږ خو صفا راتــه منظـر کړه | ۱۶۵ |
| ۷۱ | د وطن غمیزي ګرانه ! راشـه پربږدو | ۱۶۷ |
| ۷۲ | تورتم | ۱۶۹ |
| ۷۳ | کلـه ځان سره ګایېږم ، نهٔ پوهېږم | ۱۷۲ |
| ۷۴ | نهٔ سقراط دزمانې یم نهٔ دبېل زمان سړے یم | ۱۷۴ |
| ۷۵ | پای لیک | ۱۷۶ |


★ ★ ★

**بسم الله الرحمان الرحیم**

# دجانان خیال

کله چي زهٔ سهار سهار را پاڅیږم نو هر هغه خوب چي مي په شپه لیدلے وي هماغه شان را یادیږي نهٔ لکه څنګه چي ما لیدلے وي- څهٔ ماتي ماتي کرښي یې زما په ذهن کي دلته هلته کږې وږې پرتې وي او ډېر ښکلي منظرونه رانه هېر وي- زهٔ بیا تر ډېره د دغو کرښو په یو ځای کولو لګیا اوسم ، کله ترې څهٔ جوړ کړم او کله هسي څادر ټك وهم روان شم- زما خیالونه هم زما د خوبونو په شان مات مات وي ، کله یې بېلا بېلي ټُکرې سره پیوند کړم یو مضمون ترې جوړ کړم او کله چي یې هسي مات مات پرېږدم نو شاعري شي- ځکه نو زهٔ نهٔ د شاعرۍ معراج ته د رسېدو دعوه لرم او نه د مضمون نګارۍ- څهٔ نهٔ څهٔ لیکم ولي چي دا یو فرض ګڼم او فرض پرېښوول ګناه ده.

شاعري داحساس تر پرتَو لاندي د خیال په زېور ښکلا مومي- د ادیب احساس یو لاشعوري داخلي څیز ګڼل کیږي خو په فلسفیانه تناظر کي د خاریجي دنیا خبر ګیري هم حواس کوي- ځکه نو داخلي احساس د خاریجي حواسو تر اثر لاندي جوړښت مومي- شاعر چي کوم څهٔ ویني یا یې اوري ، له هماغو اثر اخلي او د تخیل پر آسمان باندي د یو خیال د ښکلا په کار لاس پوري کوي. ځکه نو دغه حواس د خیال

د صحت ضمانت ورکوي. د کاڼه او ړانده کس احساس به هم ښايي چي کوڼ او ړوند غوندي وي او د تخيل په کارخانه کي به يې د خيال ښکلا ښايي چي په هماغه ګچه کېږي کومه چي تر دغه احساس لاندي وده کولای شي- زۀ چي کوم څۀ اورم او وينم يې هماغه مي داخلي احساس تودَوي چي وروسته بيا دخيال جوړښت ورباندي کېږي- ښايي چي د هر شاعر په شاعري کي به همدغه احساس د خيال په جوړښت کي برخه اخلي-

احساس د انسان د داخلي ردِعمل نوم دے چي تر يوې وقوعې وروسته د دۀ په ذهن کي راپاڅېږي- دلته خو ورځ له وقوعې خالي نۀ ده ځکه يې نو ردِعمل هم ما غوندي دلوی شمېر ليکوالو په نظم او نثر کي ليدل کېږي- له لويه سره د اديب په لاشعور کښي د احساساتو څۀ فطري ترتيب نۀ وي بلکي د حواسو په ذريعه چي کوم څۀ دے محسوسَوي د هماغو په نتيجه کي ترتيب مومي ، ورسره ورسره نوي نوي احساسات هم را پاڅېږي- په انساني ذهن کي د تجربې پر بنسټ او د فکر په مرسته د دغو احساساتو نوے ترتيب او تشکيل زما په نېز اصل خيز دے چي ما غوندي ډېر کسان په تخليق خوښ کاندي- ځکه نو دا ويَل پرځای ګڼم چي انساني ذهن همه وخت د احساساتو په نتيجه کي راپاڅېدلو جذباتو ، خواهشونو ، ګمانونو او خيالونو ته يو خاص ترتيب او نظم ورکوي لګيا وي چي د نوو نوو تخليقاتو موجب ګرځي-

زۀ په ادب کي د احساس سره سره بنيادي اهميت د خيال ګڼم چي د ښکلا او صحت بنسټ يې پر حواسو دے- داخلي احساس د فکر په مرسته او د ژوندانۀ د تجربې پر بنسټ د خيال په تراشلو او سمولو کي تر هر څۀ مهم رول لوبوي- ځکه نو احساس داخلي او

خارجي دواړي برخي لري- خارجي حواس د راتلونکي وخت په حقله څهٔ معلومات نهٔ ښندي بلکي د خوا وشا د ماحول د بېلا بېلو واقعاتو تفصيل راغونډوي او ترذهن پوري يې رَسَوي- داخلي احساس بيا نوے ترتيب ورکوي ، سموي يې ، ښکلوي يې او شهکار ترې جوړوي- د جانان خيال هر چا لره يو خوږ خيال دے او د هر شاعر شاعري ښکلا په مومي-

ما غوندي هر اديب د خوا وشا د ماحول و بېلا بېلو واقعاتو ته پر خپل انداز ترتيب ورکوي- دا لازمي نهٔ ده چي د يوهٔ اديب په ذهن كي دي د واقعاتو ترتيب هماغه شان وي لكه چي دبل اديب وي- ځكه نو په ټولنه كي يو اديب زيات حساس ښكاري او بل كم- يو خيال ډېر ښكلى وي او بل لږ- يوازي داخلي احساس د انساني خوى يا روَيې په حقله حتمي څيز نهٔ شي ګڼل كېداى ولي چي دا هم خپل يوحد لري- زهٔ په وارو وارو پر دې ټينګار كوم چي كه پر يوه واقعه تر هغه وخته يقين ونهٔ كړشي ترڅو چي يې پخپله ونهٔ ويني نو بيا د هغې تجربې څهٔ احترام پاته كېداى شي كومه چي نورو بې شمېره ليكوالو له پېړيو همدغه شان په لېدلو او كتلو حاصله كړې وه او د كتابونو په شكل تر موږ پوري راورسېده ؟ ځكه نو زهٔ په خپل نفسياتي جوړښت كي د مشاهدې سره سره د مكالمې او مطالعې برخه درَنه ګڼم-

زما په شمول ددې سيمي دليكوالو په ټولنيز فكري تشكيل كي بېلا بېلي كړني برخه لري او همدغه د دې خلګو ګډ ارزښتونه دي چي په حقيقت كي زموږ مربوط ټولنيز احساس دے- په ادب كي د خيال ښايست په ډېرو بېلا بېلو رنګونو پوري اړه لري او د خيال حقيقت همدغه مربوط ټولنيز احساس دے چي د اجتماعي لاشعور په بنسټ كي مُهمه برخه لري-

خیال زیاتره د الهام په شکل کي وي خو کله کله د ادراك په تالۀ هم تلل کېدای شي- تخلیقي قوت د اجتماعي لاشعور سره تړلے دے چي په بنسټ کي یې مربوط ټولنیز احساس د نوو نوو خیالونو تشکیل کوي- د بېلګې په توګه موږ په شاعري کي د 'آمد' پر وخت چي د شاعر کوم کېفیت وینو همدغه یې په اصل کي خپل بېل احساس دے چي شاته یې مراندي د لاشعور سره تړلي دي- انفرادي لاشعور یې بیا د ټولنیز لاشعور سره تړاو لري چي دۀ ته د خپلي ټولني د درد محسوسَولو قوت وربخښي او د بېلا بېلو وقوعاتو تر اثر لاندي یې په تخلیق کولو خوښ او آماده کاندي-

لکه چي ما په خپل کتاب *انساني ذهن او تخلیقي تنده* کي بحث وربادي کړے دے ، تخلیق کوونکی د خپل نفس په جوړښت کي دننه د انفرادي شعور او لاشعور سره سره اجتماعي شعوري او لاشعوري تـوَمنۀ هم لري ، ځکه نو د ټولني په تعمیر کي مهم رول لوبولای شي- تخلیق که څۀ هم د تخلیق کوونکي خپل انفرادي عمل ښکاري خو په اصل کي یې اثرات ټولنیز وي ولي چي دے د ټولني سره نفسیاتي تړاؤ لري- زما تړاو د پښتني ټولني سره دے چي له تېري نیمي پېړۍ راهیسي د بې شمېره ناورینونو په زد کي ده ځکه یې زما پر لیکنو اثرات ښکاري- کتاب **دجانان خیال** ستاسو په وړاندي ږدم- هیله ده چي تنده به مو پرې ماته شي-

**دځلاند سبا په هیله**
**ډاکټر باقي دُراني**
**کوَټه**

# ربــه!

ربه ! زَموږ او د دې نورو ربه!
د کهکشان د سپینو ستورو ربه!

دغه خالونه د تیارې پر ګرېوان
درښا څاڅکي ددې شپې پر ګرېوان
لکه بڅرکي د اسمان پر لمن
لکه لعلونه د جهان پر لمن
دلته کي ښکاري له پیرَیو څخه
له مدّتونو په همدغه تپاک

سپینه سپوږمۍ د چنارو د پاسه
د دنګو دنګو تورو غرو د پاسه
د تېر مهال په څېر روانه ښکاري
نن هم هغه شانتې روښانه ښکاري

**بیا په همدغه شان له شرقه څخه**

**دشنۀ اسمان پرځېره باندي همېش**

**درون سهارپرسپین تندي هره ورځ**

**ځلانده لمر دلته راځي هره ورځ**

**چي په وړنګو یې داجهان ویښېږي**

**زرغوني ځانګي او ګلان ویښېږي**

**په سردرو کي معّطر بادونه**

**اوس هم چلېږي د پخوا په شاني**

**چي خوا و شا پکښې ټالونه وهي**

**د چینارونو پلني پلني پاڼي**

**تانده خوشبو چرته له لري راوړي**

**د فطرت ساز مستي سندري راوړي**

**د تورو غرو پر دنګو څوکو باندي**

**نیلی شهباز د همېشه په شاني**

**نن هم اوچت پروازېه ویاړه کاندي**

**چرته چي غواړي یوه غاړه کاندي**

خو اې زَموږ او د دې نورو ربه!
د سپینو خلکو او د تورو ربه!
داڅهٔ عجبه غوندې رسم نهٔ دی ؟
دوخت قانون عجبــه لوبه نهٔده ؟
چې به همېش په زړهٔ زهیر یمه زهٔ
تل به تړلی په زنځیر یمه زهٔ
ځې به هر څیز په خپله لاره آزاد
او په ګرداب کې به نو ګیر یمه زهٔ

★ ★ ★

د مینې لېونې لره تسکین د اضطراب
یَوه لپه دعا وي ، یا یَوه پیاله شراب

کردارلکه چې درخته وي شهرت لکه سایه
شهرت لکه یو نکل او کردار لکه کتاب

طلب شرط دحاصل دے هر انسان لره اشنا
که برخې ازلي هم دي خو غوارې انتخاب

عجبه سادګان دي ددې دښت ځېلې خلګ
په ګوتو ټولوي اغزي ، اجرت اخلي عذاب

پر تن لري لباس او نۀ څادر چرته پر سر
د ژوند په بیه اخلي تش خېرې لره نقاب

کوښښ دروغي نۀکړي نۀدسولي کړي همت
تر سر دسړي تېر شي او لا غواړي هم ثواب

نۀ درد دے د ځغملو او نۀ غم د تېرېدو
بیا هم لېوني غواړي ترې نه وس دارتکاب

بَری دلته هر څوک غواړي خو زۀ درنه فقط
د سولي په تکل غواړم د میني یو کتاب

تۀ څۀ به کړې ټکور سل پر هرونه د بېګا
تۀ چرته راکولای شې د سرو زخمو حساب

زۀ دې سپېځلو ښکلو ماشومانو ته له تا
تش یودژوند اُمیدغواړم تش یوسم انتخاب

ملت لره تادیب د خلګو، زړۀ دے د ټولني
حاکم لره لازم ګڼم د خلګو استصواب

**تسکین داضطراب لره د سولي يو سوګند**
**زۀتانه بل څۀ نۀ غواړم، لقب اونۀ خطاب**

**مرام د ژوندانۀ جدا جدا وي د هر چا**
**يوچا لره شراب وي او بل چا لره سراب**

**دګور توره تيارۀ کې به هم چرته وي مېشته**
**يو زېری د رڼا *باقيِ*! يو څرك د آفتاب**

★ ★ ★

# امن

اې د دنګو څوکو یاره!
را شېوه شه له کوهساره
راشه روغه سره وکړو
د ځلاند سبا دپاره

چې په زړونو کې شک نهٔ وي
او سرونه په امان وي
نو یو مټ به سره ښکاري
که سپینغرکه سلېمان وي

د خېبر په لویه لار به
وي خپارهٔ زرې رنګونه
د ګلونو تاندې لښتې
د غاټولو قطارونه

**مخ په وړاندې به روان يو**
**د ښکلا پر پستو پاڼو**
**د رڼو چینو له ځنګه**
**پر سړوکو  وږو کاڼو**

**چې نرے شمال چلیږي**
**او نغمې وي هري خوا ته**
**زۀ او تۀ به پرې الوت کړو**
**نۀ يو مخته نۀ بل شاته**

**لاس په لاس کې به روان يو**
**د ښکلا پر دنګو غرونو**
**د خوشبو په څیر به درومو**
**د جنت پر منظرونو**

★ ★ ★

**يَوه شېبه د پسرلي ده ، زندګي ده مینه**
**دجانان خیال دے، شاعري ده، زندګي ده مینه**

**ستړی سفر، پېهم سراب، سپېره صحرا ده دنیا**
**سړه چینه د شین تنکي ده زندګي ده مینه**

**ستا د خیالونو یو اتڼ دے د ګمان پر اسمان**
**سپینه سپوږمۍ ده، حېراني ده، زندګي ده مینه**

**په زولنو تړل کېدای نهٔ شي په زلفو وي شکېل**
**هم بغاوت هم بندګي ده ، زندګي ده مینه**

**ډېره درَنه تر عبادت ، ډېره بالا تر دعا**
**یوه سجده د سپین تندي ده زندګي ده مینه**

توره تیارهٔ او اوږده شپه ده دبې رحمه سیلۍ
دزخمي زړهٔ بې قراري ده زندګي ده مینه

سره سایه د چنارونو د ګودر د غاړي
قیصه د ښکلي د منګي ده ، زندګي ده مینه

ډے محبت د وفا سیوری د جفا پر صحرا
یوه وعده د لیوني ده زندګي ده مینه

مینه نغمه د مسرّت ، مینه غزل د فراق
مینه سندره د زړګي ده ، زندګي ده مینه

چا لره حسن د لیلا چا ده مسکا ګڼلې
چا له سندره د *باقيؔ* ده زندګي ده مینه


★ ★ ★

# منظر

**نا ګهانه  تصوّر کي**
**یو عجبه منظر راشي**
**وي پېهم د وخت رنګونه**
**پکښې داسي په ترتیب کې**
**لکه سره او زرغونه وي**
**د اسمان پر سینه باندي**
**د سپرلي سړوکے باد وي**
**او نرے نرے باران وي**
**تاندي لښتي پکښې ځانګي**
**سرۀ  ګلونه په ګډا وي**
**د ښکلا ښکلی منظر وي**
**د کسې پر دنګو څوکو**
**د صبا مستي نغمې وي**
**د سهار پر ساړۀ سیوري**

**چار چاپېره په دامان کي**
**وي سېلونه د کوترو**
**نوي ناوي د بهار وي**
**زرغونه قبا اغوستې**
**په اوږو یې په رپا وي**
**سور سالو ژړي یې خنډي**
**ځواني هیلي په الوت وي**
**بې خَطره، بېله ډاره**
**ټول وګړي منظم وي**
**لکه سېل د کوتانانو**

★ ★ ★



ستا په زړه کې چې ایساردے هغه څوک دے ؟
چې دي ورک پسې قرار دے هغه څوک دے ؟

هر سړی دلته د وخت په انتظار دے
چې يې وخت په انتظار دے هغه څوک دے ؟

ستا پر ما باندي ګذار زَما پر تا دے
د ګذار شاته چې کار دے هغه څوک دے ؟

په رڼا کې خو سایه راسره مله وي
چې دتوري تیارې یار دے هغه څوک دے ؟

په صحرا کې چې روان په یبلو پښو دے
او ګرېوان يې تار په تار دے هغه څوک دے ؟

تهٔ همېش ورپسې ناست یې په سرو سترګو
د سرو سترګو چې قرار دے هغه څوک دے ؟

چې تور مار یې په لستوني کې دے زهٔ یم
د لستوني چې تور مار دے هغه څوک دے ؟

څوک چې ځي په خپله لاره نو دي درومي
چې دموږ سره یې کار دے هغه څوک دے ؟

تا پوښتنه ترې و نهٔ کړه له ناصحه
چې همېش په سمه لار دے هغه څوک دے ؟

چې په برګو سترګو ګوري هغه دوی دي
چې په سترګوکښې یې خاردے هغه څوک دے ؟

باقيِ ! تهٔ خو تش د میني قدردان یې
چې د حسن خریدار دے هغه څوک دے ؟

★ ★ ★

# مروره! مروره!!

**مرَوره! مرَوره!!**
**غبږ مي واوره زورَوره !**

**راځه دواړه سره لاړ شو**
**د رڼا په سفر باندي**
**په دې تورو تورو شپو کي**
**مله دستو رو او سپوږمۍ شو**

**راځه وتږو بلاوي**
**د هنر په زړي مراندو**
**د سپوږمۍ په پستو څونو**
**د ژړي لمر په تارونو**

**لاترخوبه په دې دښت کې**
**یبلي پښې تناکي پوندي**
**د ژوندون جلَو په لاس کي**
**نامعلوم منزل ته درومو**

**کله زهٔ مخته روان یم**
**کله تا مهار نیولی**
**د دوران په ګرزو خړیو**
**همېشه سپېرهٔ مخونه**

**راشه دواړه سره مله شو**
**د سندرو په جهان کي**
**یو آواز به وي د دواړو**
**دژوندون پر ورانو لارو**

**خپل رباب لره به بېرته**
**د چندڼ ګټې تیار کړو**
**پوښ بې وځندو له ګرزه**
**سره سم به یې کړو بیا زرین تارونه**

**راشه بېرته ښکلا مومو**
**اوښکي مینځو ، څوښي تراشو**
**اوس له سره تَیارېږو**
**د یوبل سپرلي دپاره**

**راشه کر د ګلو وکړو**
**کړو ګلزار د بابا مېنه**
**چي مو بار د ژوندانهٔ نور**
**بیا د اوښ پر کته نهٔ وي**

**نهٔ به روڼي اوښکي څاڅي**
**د شهید د مور پر ګرالبو**
**نهٔ به تشي تسلۍ وي**
**د وطن په خانقا کې**

**خوف به و دانګي په تېښته**
**د ساده خلګو له زړو نو**
**په مسکا به وي بیا پېغلي**
**د هر کلي د دې سیمي**

په ګډا به وي هرچیري تاندي لښتي
وي سلګۍ به د زړو یادونو نخښي
دخندا مخه به څوک نۀ شي نیولای
که ژړا وي نو انګے به وي د ناوي

زۀ به ځان په زلفو وتړم وتاته
تۀ وهه مي د چندڼ په تانده لښته
ملامته به دچا په برخه نۀ وي
نه برے او نۀ به ماتې کور ته راشي

د ژوندون خواږه به غواړو
په یوه کاسه کي دواړه
ژوند به یو ځای سره تېر کړو
یو همېش به لاس تر غاړه

دا د وخت شوخه هما به
دواړه ونسیو په ګډه
تۀ یـې فال زَما په نوم کړه
زۀ بې اېل کړم پر اوږه ستا

پاته جنون دے، نۀ سودا ده په دې ښار کې پاته
زړګیه! کومه چار زَما ده په دې ښار کې پاته

د نصرت ځلے د تقدیر په زولنو تړ لے
دا یوه نخښه د بېګا ده په دې ښار کې پاته

یَوه لحظه شوه د وحشت، د مدتونو مقتل
نۀ غبرا چرته ، نۀ رڼا ده په دې ښار کې پاته

تۀ به تر څو ورته مېشته یې، تمنا د دیدن!
تشه وعده د بې وفا ده په دې ښار کې پاته

عقل به څنګه دجنون شلېدلي ګرالبي ګنډي
نۀ تمنا شته، نۀ لېلا ده په دې ښار کې پاته

ستوري ، سپوږمۍ اوځراغونه دماښام چرته دي
دا توره شپه ده او بلا ده په دې ښار کې پاته

وطن فروشو کډې وکړې ، چرته لرې لاړل
وطن پرسته نابینا ده په دې ښار کې پاته

اوس که تهٔ تهٔ نهٔ یې زهٔ زهٔ نهٔ یم خو بیا هم اشنا
یو حواله زما او ستا ده په دې ښار کې پاته

ناوې د میني ده لا کله له دې ځایه تللې
مګر خوشبو یې د حنا ده په دې ښار کې پاته

خانه بدوشه د وطن کفن بدوش دي چرته
تشه ژړا د بې نوا ده په دې ښار کې پاته

ځه د ایمان تانګونه وتړه دفاع یې کوه
باقيِ! تر اوسه لږ رڼا ده په دې ښار کې پاته

★ ★ ★

# پرون، نن او سبا

**د پرون له دريچې نه**
**چي زۀ دې غونډۍ ته ګورم**
**نو په خيال کي مي دا راشي**
**لکه زۀ او تۀ چي دواړه**
**ماشومان يو د دې سيمې**
**د غاټولو په منځ منځ کې**
**کمبلۍ د ښکلا ګورو**
**تاندي تاندي چورۍ ګرځي**
**خواوشا لکه کوتري**
**سپيني سپينې رمې درومي**
**دلي دوري په ګوالو کي**

آغه توره پرښه نۀ ده ؟
پارون دا هم زرغونه وه
د سپرلي په پستو بوټو
ښایسته وه، لړ لړ سره وه
د رېدي په نرمو پاڼو

دغه خړه شپله ګوره!
داهم هغه وخت چینۀ وه
راروانه روڼه روڼه
پاس له آغه دنګه غرۀ وه
چي د لمر شغلې به کله
پرا نیستلې پرې به نښتې
ځاځکی ځاځکی مرغلري
به له پاسه اورېدلې

مخامخ به دواړه دلته
د چینې وخنګ ته ناست وو
یخه یخه هوا دلته
چلېدله مسېدله


**لکه ناوې د راغهٔ چې**
**نڅېدله تېرېدله**
**ما او تا به دلته غبرګې**
**ټپې هم سره ويلې**

**خو نن دې د جبر وخت کې**
**د شيبو په اړ اړ جال کې**
**کمبلۍ د ښکلا چرته پا يېدای شي**
**د لېوانو په مسکن کې**
**سپيني سپيني رمې چرته**
**څړېدای شي پنډېدای شي**
**کاڼې بوټې د دهشت په ګړزو پټ دي**
**تاندي لښتي به نو څهٔ دلته پايېږي**

**راشه بل تدبير تيار کړو**
**د سبا د پاتي لاري**
**زهٔ به نوے راګ تيار کړم**
**تهٔ به تال ورسره سم کړې**
**زهٔ به جوړي کړم سندري**

**تهٔ یې وایه په محفل کې**
**په وطن کې به وپاشو**
**د ګلونو عطر دواړه**
**مینه مینه به خوره کړو**
**په دې بېکرانه دښت کې**
**چې په تاخت ترې نه وتښتي**
**د وحشي لېوانو ډلي**
**زهٔ به نوي شېبې ګورم**
**تهٔ  به غوټې دجال وا کړې**
**د شیبو اړ مزلونه**
**به په ګډه سره سر کړو**

★ ★ ★



یو نسبت لري افکار او منزلونه
لېونۍ هیلي، اختیار او منزلونه

لا تر ډېره به روان یو پر سکروټو
سره سیمه دي انګار او منزلونه

د وفا پر سخته لاره له کلونو
رارَوان یو ما و یار او منزلونه

که د ښار وګړي واړه دي په منډه
نو تړاو لري رفتار او منزلونه

دهر چادی خپل مسلک خپله یې لاره
لټوي دي خپل خپل کار اومنزلونه

**زۀ چي لاس ورَسوم تر دنګي څوکي**
**راته و خاندي دلدار او منزلونه**

**خپله ژبه هم کلا ده هم بلا ده**
**سره ورته دي ګفتار او منزلونه**

**واړه لاس ترغاړه درومي په جهان کې**
**سپينه مينه ، اعتبار او منزلونه**

**ګوندي روغ کړي د باقيؔ مات وزرونه**
**ستا د سرو سترګو خمار او منزلونه**

★ ★ ★

# مهٔ وېرېږه!

مهٔ وېرېږه اې زړګیه!
مهٔ وېرېږه له پېریانو
ددې وخت له دې اور پوکو
له دېبانو او لېوانو

مهٔ وېرېږه! مهٔ وېرېږه!!
د ځیرګي له ځیرو بڼو
د شکاڼهٔ له تېرو غشو
د ګیدړ له سپینو غاښو

مهٔ وېرېږه په دې شپه کې
د بلاوو له وژغونو
له وحشي وحشي مخونو
له ځیرو ځیرو لاسونو

زهٔ یو داسي وخت هم وینم
د زمان د تاک په سرکې
چي صحرا به زرغونه وي
او ګلزار به وي دا غرونه

هري خواته به سپرلے وي
د ژوندون تراخهٔ به نهٔ وي
سر درې به وي رنګیني
کاڼي بوټي به تازه وي

نهٔ به پاڼو غوندې رپې
په مکتب کي تاندي لښتي
نهٔ به غلي غلي کېږي
دوطن کنکي له ډاره

نهٔ به ناستي وي په خوب کي
د پېړیو ځیرې رَوي
نهٔ به وي چرته په خیال کې
د پرَدي جهان لښکري

**نۀ به لار کې مرګی ناست وي**
**د کوترو د سېلونو**
**نۀ به ماتې ککرۍ وي**
**د سپینغر د شهبازانو**

**نۀ به غشي د غنیم وي**
**د ګلونو وطرف ته**
**نۀ لیندې به چرته تاو شي**
**د ژوندون پر تاندو ونو**

**نۀ به څوک خرمني باسې**
**له ګلاب ګلاب زلمو نه**
**نۀ به وران د بابا کور وي**
**د پرَدو په سازشونو**

★ ★ ★

څواني هیلي په ګډا دي ، یَوه بېله شان ښکلا ده
د بهانده سین پر غاړه د سپوږمۍ مسته نڅا ده

د ر یشتیا پر ورانه لاره خو سفر نۀ دے اسانه
څه چي دواړه لاس ترغاړه سره دروموبسم الله ده

دجانان دمینې دنګه څوکه تل چي پکښې برېښي
هغه خیال زما اساس دی، هغه سوچ زَما رڼا ده

زۀ په داسي یَوۀ کلي کي له وخته استوګن یم
نۀ کورونو کښې ډیوې شته نۀ په کار رڼا د چا ده

د ر ېدي پاڼي ترې اخلي همېشه تازه رنګونه
ستا لبان دومره نازک دي ستاخېره دومره جداده

نوره توره تاریکه ده په دې بېکران جهان کښې
ستا د حسن د کتاب پر تاک افشان رڼا یکتا ده

روان فکرمي ځراغ دے تود احساس براق زَما دے
لوی سفر مي دے په مخه ، سخته لاره د وفا ده

چي د خېر په لاره نۀ وي زلمے هغه نابینا دے
چي د زړۀ په سترګو ویني هغه پېغله ترې بینا ده

د دې دهر ځراغونه دي عجبه شان روښانه
خو زَموږ کور کي لا غَلې هم هغه توره بلا ده

تا د عقل د کتاب پر یَوه پاڼه له ازله
رنګ پاشلی دحِنا دی ، او همدا د ژوند ښکلا ده

دلته توري توري شپې دي هلته نۀمعلوم چي ځۀ وي
زۀ په دې دنیاکي سوځم ، ستاپېمان هغه دنیاده

که غزل که افسانه ده، څراغونه د ژوندون دي
چي رڼاترې نه څوک اخلي هغه رنګ وینا ویناده

زهٔ د عشق د ښېلي لاري مسافر یم راروان یم
نهٔ سودا زما په سر ده ، نهٔ منزل زما صحرا ده

هر شاعر دے په درون کي یو نهٔ یو جوهر پا لِلے
دچا زړهٔ لکه هینداره، زرین خیال ښکلا د چا ده

زهٔ روان یم په تورتم کي ګړنګونه مي دي مخته
خو په سر کي مي سودا ده چي رڼا په آغه خوا ده

باقيِ ! هره شپه لګیا وي او دا وایي چي تنها وي
زَما زړهٔ یَوه ډیوه ده او پکښي جدا رڼا ده

★ ★ ★

# تصوّر

کله ژَړه ، کله سره شي
کله شنه او زرغونه شي
تصوّر کي چرته لري
يوه حوره را ښکاره شي

راروانه په ناز ناز وي
د احساس په پلوشو کي
پل په مينه مينه اخلي
رانزدې شي را کږه شي

لکه سره و زرغونه وي
داسمان پرسينه باندي
د نيکهٔ پر غولي دلته
داسي خمله شي خوره شي

راته وايـي" اې شاعره
اې د مینې پیغامبره
په حېرت مه راته ګوره
هسې نهٔ چې ببرته شپه شي

راځه دواړه لاس ترغاړه
په سفر د مینې وځو
چې مو پراخ دزړګي کورشي
چې روحونه مو تازه شي

له دې کلي چرته لرې
په څهٔ نوې سودا وځو
چې فکرونه په الوت شي
د فطرت په ننداره شي

نوبه ورک شي دجنګ څلي
ویر به وتښتي له کلي
را برسېره به رڼا شي
وخت به ټول نغمه نغمه شي

**ژړی لمر به زر وپاشي**
**دسپینغر پردنګه څوکه**
**خړ ګوالونه به مسېږي**
**کاڼي بوټي به تازه شي**

**شین اسمان به مرغلري**
**بیا په لپو لپو پاشي**
**سره صحرابه د وختونو**
**ښایـي بېرته زرغونه شي"**

★ ★ ★

دا چي مغل غوندي خَزه کي سره غلي نهٔ دي ؟
دا يې پر نونه پښتانهٔ دي اشنا ! خلي نهٔ دي

سپيني کوترې ځکلوي ګلان په کاڼو ولي
دغه وګړي په هيڅ ګون زموږ د کلي نهٔ دي

چي د سېلاب مخه زموږ په خوا را اړوي تل
موږ لا تر اوسه پېژندلي دا ناولي نهٔ دي

د تورې شپې پرمخ به څهٔ ګوري رڼا دسپوږمۍ
څوک چي له خپلي توري خوني راوتلي نهٔ دي

زړګيه! درومه که دې لاس تر لاسه ورساوهٔ
لا د لېلا شينکي خالونه رژېدلي نهٔ دي

زۀ به تر هغه وخته سر پر بالښت څنګه ايږدم
چي له وطن نه مې د شر بوټي ريبلي نۀ دي

پام کوه چرته پل راوا نۀ ړَوې، ډوب به دي کړي
چي دې ګرداب ته څوك لوېدلي دي ختلي نۀدي

خود به ترې بل وطن ته درومي ډارېدلي خلګ
څپې تر اوسه د طوفان لا درېدلي نۀ دي

دتوري شپې په وړاندي برېښي ويښ زلمي دوطن
د سپيني ورځي پر مخ چا ستوري ليدلي نۀ دي

په سفر وځي بې څراغه چرته بيا په تروږمۍ
سپېځلو زړونو ظلمتونه پېژندلي نۀ دي

مندي يې اوښکي نوري نۀ بَهَوي وياړ پرې کوي
د وطن ستوري لا ځلېږي رَزېدلي نۀ دي

ګمان مي نۀ شي چي به دوی په حال د چا خبرېږي
تر څو لمبې د محل منځ ته رسېدلي نۀ دي

هسي لګیا دي او سیالي کوي د ستورو سره
دوی خو تر اوسه د کور بام ته لا ختلي نۀ دي

پرې یـې ږده خوشي دي بهېږي خپل منزل ته *باقي*!
د خوشبویـي څپې پر غولي درېدلي نۀ دي

★ ★ ★

# نیمګړتیا

**لیوني خیالونه ګرځي**
**دلي دوري په فضا کې**
**چرته لري هلته بره**
**په اسمان کي په خلا کي**

**په امید د یو الهام دي**
**په لټون دي چرته واړه**
**د یو سوال چي یې ځواب دے**
**نۀ په هو او نۀ په یا کي**


**سرګردانه په ګردان دي**
**لکه خلي په ګرداب کي**
**لکه سېل وي د مارغانو**
**پړ کېدلے په صحرا کې**

**يو احساس د نيمګړتيا مي**
**ورسره ورسره درومي**
**وي همېش ورسره مل مل**
**هم په شپه هم په رڼا کي**

**دوجود شهباز مي راشي**
**راته وايـي کله کله**
**نيمګړتيا نوم د ژوندون دے**
**د قدرت په بشپړتيا کې**

**هره خښته پختيا مومي**
**د تکميل په سره بتۍ کې**
**بېکرانه زندګي ده**
**دفطرت په نيمګړتيا کي**

★ ★ ★



شاته پاته شوم له کوچه، دماشوم په شان روان یم
د خیبر په لویه لاره پر یشان یم پر یشان یم

د شپېلۍ سپېځلے غږ یم همه تن ارمان ارمان یم
د اوږدو خیالونو لاړ یم پیوسته ګمان ګمان یم

هغه پېر د پسرلي ؤ چي وو لاس تر غاړه دواړه
دغه وخت د انتظار دے او زۀ خلے د خران یم

یو مارغۀ د دنګو غرونو د فطرت تر جبر لاندي
په ځنګل کي د فکرونو ګمګشته یمه حېران یم

ماځیګر- پیړلی سر دَ لمر په غشو دے ماښام ته
د رڼا څو امیدونه پر اوږو روان دوان یم

له پېړیو لکه درخته د صحرا یم بې ثمره
لا ترڅو به انتظـار کړم ، لا ترڅو به دغه شان یم

زهٔ د خیال پر براق ګرځم د فطرت پر منظرونو
کله باز د دنګو څوکو کله ښاړے د دامان یم

پرنامهٔ دخدای جنګیږي ، د دهٔ روی به ورته وروړم
دطوفان په لار کي پروت یم د تېرو زامو ترمیان یم

دوعدې په شپه را نهٔ غلې انتظـار دي زما مل ؤ
اوس پیکر د بېلتانهٔ یم او سندره د هجران یم

لږمي پر کړه لږمي خپل کړه لږمي ونیسه په غېږکي
اې وطنـه! اې وطنـه!! تهٔ لېلا یې زهٔ جانان یـم

د ګل زخم به مرهم کړم، دخار څوکه به کړم پڅه
زهٔ باقيِ د غم دوا یم د ویشتلو زړو درمان یم

★ ★ ★

# د بخت هما

راځه د بخت هما راځه چي مظلومان دي غواړي
د دامان بوټي او د دنګو غرو ګلان دي غواړي


تهٔ به راځې، تهٔ به لازم راځې پر دغه صحرا
پر دي رېګونو او دښتونو زموږ
ولي چي دا پاستهٔ لړونه د رېګ
دبل چا پل نهٔ ځغمي ، غل نهٔ ځغمي

تهٔ به راځې ، تهٔ به لازم راځې له دغي درې
له دغي خوا لکه د للمي باران،
لکه سړوکی باد تر مخ د سپرلي
لکه صبا د دنګو غرونو تر منځ

**تهٔ به راځې، تهٔ به لازم راځې له پاسه سبا**
**زموږ په خوا، زموږ د بخت اې هما!**
**لکه سایه د نالیدلي پرۍ**
**لکه امید د نازولي جینۍ**

**تهٔ به راځې، تهٔ به لازم راځې پر دښت د بلا**
**لکه آهنګ د په زړهٔ پوري نغمې**
**لکه احساس د ژوندانهٔ د ناوې**
**دا تېروتلې قافله به تر منزله بیایې**

★ ★ ★



توره شپه ده لاره اړه
ته بې سر نهٔ کړې یکړه

نهٔ دي زهٔ د زړهٔ څراغ شوم
نهٔ مي تهٔ د لاس لکړه

دا واړهٔ واړهٔ لعلونه
خدایه بېل مهٔ کړې له لړه

زهٔ همېش یم په دې ډارکې
چي بدل نهٔ شې ناوړه

راشه بېرته سره روغ شو
زما سر ستا یې مچړه

دا د سر یوه سایه مې
چرته و نۀ کاندي دړه

غمجن زړۀله چې مرهم وي
هغه لے وځي له نړه

کډي لاړې وسپوږمۍ ته
موږ لا ګرځو پر دې تږه

باقيِ لاړ خزان خزان شو
بختۀ چرته یې ناوړه

★ ★ ★

# بهانده روده !

اې دالما س په ځېرځلانده تل بهانده روده !
چرته که لاره درته وتړي د وخت ظالمان
د زمانې د تور او سپين مالكان
نو به تهٔ کومه بله لار خپلوې ؟

ځپانده روده ! لږ مي پوی کړه په دې
که ماتېدای نهٔ شو دېوال د لاري
که دا تر وسپنه هم ټینګ وخاتهٔ
بیا به تهٔ څنګه خپله لار و باسې ؟

اې بهېدونکې، غورځېدونکې، خوځېدونکې روده !
د لاري خنډ که تر غورځنګ اوچت شو
ستا نیلی آس هم په ګرداب کي ګیر شو
هلته به کوم تدبير وي تالره سم ؟

**خو زهٔ پوهیږم اې د دنګوغرو  بهانده روده!**
**د موسمونو په چل پوهه، تل غړانده روده**
**ته به لازم د بهېدو لاره وباسې چرته**
**هم به دغهٔ شانتې روان  یـې همېش**

**تهٔ به روان یـې تر ابده په هم دغه انداز**
**د لارې خنډ به په هرحال بَهوې**
**ته به لازم د جبر ملا ماتوې**
**خپل نیلی آس به له ګردابه باسې**

★ ★ ★

ژبه ګونګۍ شونډې پرې پرې په انتظار ولاړ یم
تهٔ چې په کومه لاره ځې په انتظار ولاړ یم

سپیني سپوږمۍ ته سره پېیمه په لړ د فکر
هیلې، سلګۍ او اندېښنې په انتظار ولاړ یم

تهٔ به لا کله زموږ کلي ته راځې سپرلیه
زهٔ یېلې پښې ستا د وعدې په انتظار ولاړ یم

د زمانې جبر له خپلې سایې ما بېرَوي
په سپینه ورځ د تورې شپې په انتظار ولاړ یم

لکه ملنګ د زمانې، یوهٔ دېوال ته دوخت
زهٔ د برلن د ښایستې په انتظار ولاړ یم

نۀ په څراغ نۀ په قندیل نۀپه سپوږمۍ صبرېږم
یو لېونے یم د ډیوې په انتظار ولاړ یم

له مدتونو د ښکلا د یوۀ څرک په هیله
پر دې صحرا د کافلې په انتظار ولاړ یم

ګوره ! د خپلو پرهرونو د مرهم د پاره
دلته د کومې فرشتې په انتظار ولاړ یم

چرته چې څاڅکی د اوبو هم رسېدلای نۀ شي
هلته یو زۀ د پېمانې په انتظار ولاړ یم

ما لره لپه د غمو ده د ژوند په بیه
خود به د رحم د شېبې په انتظار ولاړ یم

زۀ د وختونو په تورتم کې له ازله *باقيِ*!
د یوې بېلې شان ډیوې په انتظار ولاړ یم

★ ★ ★

# اندېښني

زَما مینه د ګلونو پر غونډۍ ده
زهٔ تږ لے د اوو مراندو په شکېل یم
ژوبل ژوبل اندېښني مي په سلګو دي
نهٔ پوهېږم چي یاغي یم او که اېل یم

کله خیال د دنګو غرونو په الوت شي
کله ګښېوځي په تلکه د صیاد
کله هیلي لکه زاڼي چرته درومي
کله غشي د اغیار ور باندي اوري

کله کله اباسین په غرغړو وي
غونډي غونډي حوصَلې پکښي ځنګېږي
قافلې د امیدونو وي په شور کي
د جرس غږا تر لري لري درومي

**داسي هم وي کله کله چي له غيبه**
**چرته راشي تغيّر په زمانه کي**
**د ديدار پيالې په څرخ شي**
**د هستۍ په مېخانه کي**

**زندګي د متضادو آمېزه ده**
**کله ورځ او کله توره تاريکه ده**
**کله ستورے د اميد ذرې شي**
**کله بخت د اسمان ستورى شي ځلېږي**

★ ★ ★

**له کوره کوچ کړي له دیاره سرګردان دي یاران**
**بیا د خېبر په لویه لار چرته روان دي یاران**

**زما د ښهٔ او بد ملګري، زما ستوري د شپې**
**زما د خیال د پسرلي تازه ګلان دي یاران**

**دلته روستم ته هم په برګو برګو سترګو ګوري**
**هلته پراتهٔ لاندي تر سوري د پېزوان دي یاران**

**پړي یې وا نهٔ چول خپلو لېونو جذبو ته**
**اوس نوورانیوته حېران دي پرېشان دي یاران**

**د دښمن سر لره خو کاڼي له ازله ول دوی**
**عجبه دا چي اوس د غولي دښمنان دي یاران**

وریپسي ګورئ چرته بیا لار ترې نه ورکه نۀ شي
کله منکر، کله ملګري د یزدان دي یاران

چي په الوت شي نۀ وځان ته نۀجهان ته ګوري
په دنګو غرونو کې ودان دي شهبازان دي یاران

سر ته یې نۀ کتل په مال کي یې نظر ؤ د چا
اوږۀ اوږۀ اوس نو په زرنده د دوران دي یاران

څنګه به مخ ترې نه په بله خوا زۀ واړومه
قرار د زړۀ او د زخمونو مي درمان دي یاران

دسمي لاري په لټون نۀ وۀ په ځغاست وۀ *باقي*!
ځکه دېوال ته اوس ولاړدي او حېران دي یاران

★ ★ ★

# لېوَنے خیال

پر صحرا لکه مجنون زهٔ
یېلي پښې چرته روان یم
په دې هیله چې لېلا مې
کله غېږې ته نژدې کړي

لېونے خیال مې الوت کړي
د دې دنګو غرو له پاسه
اندېښنې مې را تاوېږي
د دردونو تر ځنګلونو

په هم دغسې مهال کې
یو غېږ غېږ شي چار چاپېره
بخت له خوبه را بېدارشي
د قیاس منظر بدل شي

له اسمانه ګلان اوري
زۀ لمن ورته خوَلۍ کړم
په دې بېکرانه دښت کي
د هغې لېلا دپاره

د ګل پاڼي کړم اواري
ورته ګورم ورته ګورم
چي سبا به دښکلا ورا
په ګډا ګډا پرې راشې

د وطن واړۀ لعلونه
د ګوالونو تاندي لښتي
د اسمان سپیني کوترې
به مسېرې په دې دښت کي

چار چاپېره به خوښي وي
مسّرت به وي هر لور ته
دغم دښت به ګلستان شي
د جنګ دور به تمام شي

★ ★ ★

**حقیقت او پر ګمان باندي يې شک وي**
**شېخ وَلاړ وي پرايمان باندي يې شک وي**

**پر يَوه چاره يې فكر صفا نهٔ وي**
**يو زهٔ نهٔ يم پرجهان باندي يې شك وي**

**دګندېر سوري ته ناست وي په ځنګل کې**
**په ګلاب او په ريحان باندي يې شک وي**

**څوک له ډاره اوس د ميني ذكر نهٔ كړي**
**د پېمخو پر پېمان باندي يې شک وي**

**هر څهٔ خپله په نوكانو كيندل غواړي**
**پر كارونو د يزدان باندي يې شک وي**

څوک چې تل د لنډي لاري په لټون وي
پرساروان او پرکاروان باندي يـې شک وي

د طفلانو پر غوغا باندي څنګېږي
د سندرو پر ميزان باندي يـې شک وي

د دروغو له ګردابه وتای نۀ شي
د ريشتياو پر پيمان باندي يـې شک وي

راهنما له خپلو خلګو نه ډارېږي
باقي ځکه چې پرځان باندي يـې شک وي

★ ★ ★

# یادونه

په بهاو کې د وختونو
لکه شپون هرکله پیایم
پر دامان د دنګو غرونو
ستا رمې رمې یادونه

سره پېیم په یو لاړ کې
کله کله ستا خبرې
کله کله تهٔ را مات کړې
د اوږدو خیالو لاړونه

ستا جفاوې یادومه
ستا د مینې په معبد کې
په مقتل کې د وختونو
یادومه ستا زخمونه

**خو زۀ فکر کوَم یاره !**
**تۀ مي هم هېرواى نۀ شې**
**بې قراره به دي کاندي**
**هر ساعت زاړه وختونه**

**سل یادونه به زَما وي**
**ستا امیل ددنګې غاړې**
**سل پېغوره به د خلګو**
**ستا د زړۀ وي پر هرونه**

★ ★ ★

کښته څاه برّه اسمان دے دلته زۀ یم هلته تۀ یې
د قدرت عجبه شان دے دلته زۀ یم هلته تۀ یې

محبت څۀطلب نۀ دے یو احساس دنیمګړتیا دے
نیم ایمان دےنیم ګمان دے دلته زۀیم هلته تۀیې

زَما کور خو دے په لار کي د بې رحمه طوفانونو
ستا کرم هم بېکران دے دلته زۀ یم هلته تۀ یې

داچي هیڅ نۀدے ډېرڅۀ دی ستاپه بره کاینات کي
یو مکان بل لا مکان دے دلته زۀ یم هلته تۀ یې

دا یې ګز دا یې مېدان تش متل نۀ دے د مردانو
دریشتیاو سپین مېدان دے دلته زۀ یم هلته تۀ یې

زهٔ د میني په سودا یم تهٔ د زړو سوداګر یې
دهرچاخپل خپل جهان دے دلته زهٔیم هلته تهٔیې

زهٔپوهېږم چي لمرلمر دے بل څراغ د دېرې نهٔ دے
ستا وصال تش یو ارمان دےدلته زهٔیم هلته تهٔیې

باقيِ! برخي په حساب دي هم د تورو هم د سپینو
او حساب هم په میزان دے دلته زهٔ یم هلته تهٔ یې

★ ★ ★

# هیله

دا ټاټوبے چي بېتاب دے
لګېدلے پرې حساب دے
یو محشر دی د وختونو
پر یَوه نېزه آفتاب دے
تشه ټکنه غرمه ده
بېکران غوندي سراب دے
پر سپېره مځکه ولاړدي
ترږي ترږي خړ پړ غرونه
که بیا چرته په خطا کښې
د آسمان وربادي پام شي
په هر ځاځکي د باران هم
د حالاتو زهر ګډ دي
سرګردانه یې وګړي
د سرۀ لمر مخکښې ولاړ دي
په دې سره سپېره صحرا کښې
د وختونو کربلا کښې

**دلته اوسي وچي شونډي،**
**يبلي پښې د دامان پېغلي**
**ماشومان خزان وهلي**
**ګلابونه دي رژېږي**
**د وطن پر دنګوغرونو**
**سره غونډ دي ناورينونه**
**څوک ترې لرې لرې چرته**
**نا آشنا وطن ته درومي**
**څوک بيا غلي غلي ناست دي**
**د دوران تر ژامو لاندي**


**راپاڅېږي ، رابهېږي**
**انديښني لکه رودونه**
**خوځېدلي دي شعورکي**
**سل فکرونه، زر غمونه**
**لاشعور کښې په زړګونو**
**ليوني غوندي خيالونه**

په همدغسي مهال کښې
هیله نهٔ معلوم له کومه
را خورې کړې پرې له پاسه
ښاپیرۍ غوندي وزرې
توري زلفي پرې راتاو کړي
ما په وتړي درو کښې
دجانان وطن په غېږکي
په پستو وښو کي
بیا ګویا شي سردرو ته
کاڼو بوټو او رودو ته
چي زما د میني دواړي
سترګي دي دديدن تږى
د وطن د دنګو غرونو
د سپرلي د سرو ګلونو
بیا یـې ماته بېرته پام شي
په مسکا شي راته وایـي
اې شاعره! اې شاعره!!
اې د میني پیغابره!

**د زمان او مکان لوبه**
**دومره هم پېچیده نهٔ ده**
**چي له ډاره ترې رېبړې**
**ترې وېرېږې او کېږې**
**بس رواني اوبه ښکاري**
**زمانه په خپل مکان کي**
**که په وینه کښي غورځنګ وي**
**آزادي وي خوشحالي وي**
**تهٔ به وګورې پخپله**
**نظر خلاص ژبي آزادي**
**تهٔ به و وینې په سترګو**
**بدل شوي موسمونه**
**هغه کس په هره توګه**
**سزاواره بلل کېږي**
**پرې کوي چي په وطن کښې**
**د لندو لښتو ښاخونه**
**مورږ به بیا هم خود ورتېر شو**
**ترې زرګونو تېروتنو**
**که څوک ژمنه چرته راکړي**

**دلوظونو د ساتني**
**که سوګند وکړي په ډاګه**
**د وطن د پاکي میني**
**چي تراخه له منځه لاړ شي**
**زخمي زړونه پرې ټکور شي**
**سپېرهٔ دښت د ژوندانه هم**
**پرې زرغون زرغون چمن شي**
**د وختونو جبر مات شي**
**جنګ تمام شي، پاتال سوړ شي**
**یو ټاټوبی د ښکلا وو**
**د سپینغر سیوري کي جوړ شي**

★ ★ ★



سرونه سره ورته دي ذِهنونه سره ورته
ددې سپېځلوخلګو دي سوالونه سره ورته

سلګۍ ګرځي په کلو، اسوېلۍ دي خواوشا کي
دي دلته د وګړو پرهرونه سره ورته

هینداره ته چي ګورمه نو فکر کوم دا چي
زَما او د جانان خو دي عکسونه سره ورته

د زور وَ زلزلو ته دي زمونږ کچه کورونه
د خوار کبږي کږدۍ ته طوفانونه سره ورته

وعده ده که ګیله ده که پښتو ، دي سره خوښدي
پرغولي د بابا دي ګلابونه سره ورته

غنیم ته به نوخوك ورکړې درك ددې کوډلي
کورونه مو یو رنګه دېوالونه سره ورته

منم چې سره ورته دي د وخت ټول ګذارونه
ریشتیا، دي د حالاتو سېلابونه سره ورته

الوت کول هم غواړي او وزر هم ماتوي خپل
د دغو سادګانو دي خویونه سره ورته

که خان دے، که ملادے، که افسردے، که مزدور دے
زَموږ په هدیرو کښې دي قبرونه سره ورته

★ ★ ★

# باربه یوسم په اوږوکي

د خیبر پر غاړه غاړه
راروان یم له ازله
د وختونو په بهاو کي
د پیړیو په څپو کي

زۀ آزاد وم زۀ آزاد یم
د قدرت په سردرو کي
په ګلاب ګلاب موسم کي
په خزان خزان شیبو کي

د زرتښت پیغام مي خپور کړ
د بودا په قول لاړم
هره لاره د رڼا مي
لټوله په تیرو کي

د کوروش دلاري خنډ وم
تسلیم نۀشوم سیکندر ته
د غاصب مخي ته غر وم
اوسېدمه په ږېګو کي

داحمد مذهب مي خپل کړ
دریشتیا مرسته مي وکړه
یو کتاب د حق مي ونیو
په زخمي زخمي لاسو کي

دچنګېز دهشت مي تېرکړ
زۀ ټیټ نۀ شومه تېمور ته
د انګرېز غرور مي مات کړ
په څو ځله په جنګو کي


اې د لوی قوت مالکه!
دومره تۀ خو هم خبرېې
نۀ په جنګ کي شاته لاړم
نۀ لوګے شوم په تېرو کي

زۀ شهباز د دنګو غرونو
د پرواز په هنر پوهـ یم
دالوت څۀحد مي نشته
د فضا په وسعتو کي

د فطرت په میّو مست یم
په دا بې پایانه دښت کي
په همدې سپېره صحرا کي
په وحشي وحشي لحظوکي

که هرخومره یم بې وسه
که هرخومره ژوبل ژوبل
د بې رحمه طوفانونو
بار به یوسم په اوږو کي

★ ★ ★



نهٔ محفل شته نهٔ رڼا د څراغونو
څومره ورانه شوه دنیا د څراغونو

بیا د کومي خوا هوا په لېونتوب شوه
چي په ښار کي ده رَیا د څراغونو

په همدغه توګه تا له کوره باسي
چي څهٔ لري شته رڼا د څراغونو

جهالت دے وَ ناپوهه ته ښو وَنه
څهٔ به کاندي نابینا د څراغونو

ګوندي ستا کړي د نظر زاویه سمه
بس دغومره ده وینا د څراغونو

پر خېبر به نوے ښار په نوې توګه
جوړوو اوس ما او تا د ځراغونو

روایت خو له پېړيو رراوان وي
لکه نکل د پخوا د ځراغونو

په قلم به دخوشال ښکلې بڅيه!
وينبه کاندو تل رڼا د ځراغونو

ستاپرسپينه ځيره باندي اې وطنه!
ما ليدلې ده مسکا د ځراغونو

باقيِ! څومره چې ثنا د رڼا وکړې
لا به پور نۀ شي ادا د ځراغونو

★ ★ ★

# منزل

دوختونو په څپو کې
له پېړیو راروان یو
زۀ او تۀ دخېبر کاڼي
لاتراوسه هغه شان یو

په سراب سراب صحرا کي
لاس تر غاړۀ سره ژاړو
په زندان کي د ژوندون یو
له آسمانه هر څۀ غواړو

په لټون د ښو ورشو یو
په ډوکال ډوکال شپېبوکې
سپیني سپیني رمې پیایو
د ګمان په سر درو کي

په هماآغه خوا مو مخ وي
چرته لار چي د لېوۀ وي
د کږو لارو په منځ کي
راته ناست چرته چي غلۀ وي

اوس لا هم په دنګو غرو کي
کاڼو بوټو سره دواړه
په هماغه خواري خوښ يو
ترې نه تښتي چي نور واړه

له پېړيو راروان يو
د ژوندون بار په اوږو کي
په همدغو کږو لارو
چرته بوخت يو په خولو کي


نۀ پوهېږم نۀ پوهېږم
چي ترخو به داسي کېږي
چي تر کومه به همداسي
دژوندون شېبې تېرېږي

لا ترخو به زۀ او تۀ يو
په دلدل کي د وختونو
لا تر خو به غشي اوري
د کسې پر دنګو غرونو

د زمان پر ریګ روان یو
د سراب په سفر دواړه
نامعلوم منزل ته درومو
د اجل ګړانګ پر غاړه

راشه اوس نو لوړه وکړو
د ځلاند سبا د پاره
چي کیلۍ د هنر ګورو
قلم اخلو له دې واره

★ ★ ★



ر یشتیا به وایی خو مسکن د بلا نهٔ لټوي
په سپین لباس کي پټ تکتور اژدها نهٔ لټوي

کوي پر خپلو وزَرونو همېشه اعتماد
باز لکه چرګه په انبار کي غذا نهٔ لټوي

رب دي په خپلو څراغونو کړي پخپله روښان
زموږ سپېځلي خلک تته رڼا نهٔ لټوي

بیا په سراب پسی روان شول دعمرونو تږي
بیا قضا بخته پسې درومي بقا نهٔ لټوي

د خلد په تمه دي ګلان غواړي پر بله دنیا
پر خپله مځکه دوزخ ګوري ښکلا نهٔ لټوي

ګوره ساده په یبلو پښو مخ په صحرا رَوان شو
په خپل وطن کي خوشبويـي دلېلا نۀ لټوي

مېنه پر ستورو لټوي خوارۀ خوبونه ويني
اسمان ته لاره جوروي خو فضا نۀ لټوي


خوشالی غواړي د ملت له قام فروشو بيا هم
عجبه خلګ دي سبيل د سبا نۀ لټوي

دمرګ اوژوند توپير به څۀوربادي وشي *باقي*!
زندګي غواړي سادګان او هـوا نۀ لټوي

★ ★ ★

# لمر

ژړوکے لمر د دنګو غرو له پاسه
په څومره نظم او ګمنډ روان دے
زريني سپيني پلوشې يې چار چاپېره خورې
سپينه روښانه پېمانه يې ده لبرېزه غوندي
دغرو پردنګودنګو څوکو زرين شال خپروي
پېغام دميني ورکوي ګډ ے په حال خبروي
سړوکے باد ورسره  درومي درومي
د پښتونخوا د سردرو له پاسه
سپيني کوتري  ورسره  ورسره
زموږ پرکور بره تېرېږي په ناز
ګوندي وپاشي نن په مينه مينه
زموږ پر کلي هم رنګيني شغلې
ګوندي تازه کړي دسپرلي رنګونه
د کاڼو بوټو څېرې و ښکلوي
غوټۍ زموږ د بېديا وغوړوي
ګلونه و مسوي



زۀ له قافلې نه بهر نۀ یمه
ستوری د غاصب د نظر نۀ یمه

مینه لکه وینه مي په تن کي ده
لاندي د بل چا تر اثر نۀ یمه

ستا د تورو غرونو ازانګه یمه
غبږ یم له درې نه بهر نۀ یمه

ورانه یـې زما خواره جونګړه کړه
نور نو له طوفانه خبر نۀ یمه

زۀپه خپل اختیاردلته مېشته یمه
دومره بې اختیار پر خیبر نۀ یمه

ګل یم د جانان وطن په غېږکي یم
کاڼے د غنیم د ګودر نۀ یمه

خرک یم دظلمت په هره څانګه کې
تش په انتظار د سهر نۀ یمه

زۀ لکه خوشبو یم علامت د عشق
چرته به ځم یاره ! خبر نۀ یمه

تږے پر صحرا یم د اوبو په څار
شېخه ! تږے ستا د کوثر نۀ یمه

ستا د مُکر مل نۀ یم ورنه *باقيِ*!
هيڅ کله منکر د هنر نۀ یمه

★ ★ ★

# کاڼے


زهٔ یو کاڼے د راغهٔ یم
پروت دسیمي پرورانهٔیم
کله ژوند کوَم سرهٔ لمرته
کله پټ په ځهٔ ناځهٔ یم

کله ورک یم په غبار کې
د بې رحمه طوفانونو
کله لري په ځنګل کې
چرته لاندي تر واښهٔ یم

دوطن په غېږکي پروت یم
یو غمے د سلېمان یم
یوه نخښه د جانان یم
د غنیم ګوتکي له نهٔ یم

**د سپینغر  پر سینه باندي**
**چي پرخپل مقام یم دروندیم**
**که دي بېل کړمه له اصله**
**بیا نو ستا  سر لره  ښهٔ یم**

★ ★ ★



کډي لاړې له دامانه
تهٔ خبر نهٔ یې جانانه

پر ازغو باندي سفر دے
له قیاس نه تر بیانه

څه پرلمرمحل تعمیر کړو
چرته غلے شوې ارمانه

زهٔ په خپله خواره سیمه
کرَم ستوري کهکشانه

ما پر دغه مځکه پرېږده
نور څهٔ نهٔ غواړم اسمانه

زما ژبه شوه تنګاکی
تهٔ لا پاته یې داستانه

خبر نهٔ یم څهٔ به کاندم
که تالاس یَله کړل ګرانه

ددې ښارتنګو کوڅو کی
مهرَبان ګورې نادانه؟

ژوند روانه قافله ده
له یقینه تر ګمانه

شیخ ایمان دخلګو خرڅ کړ
تهٔ لا چپ یې باقي جانه!


★ ★ ★

# لکه شپون

لکه شپون پر یو دامان روان دوان
سپیني سپیني رمې پیایم د ګمان
کله شاه د زمانې یم ، کله خَلی
د وختونو په بهاو کي ګرېزان
د فطرت په میّو مسته هوا درومي
کله کله پکښې ناخي سرهٔ ګلان
زهٔهم تاندي نغمې اورَوم په دښت کي
د شپېلۍ پر څپو باندي په ارمان
کله کله بیا یکسر سپېرهٔ ډوکال وي
ژوند په هیله وي د للمي د باران
کله ډار وي د بې رحمه طوفانونو
کله شین زرغون چمن وي دا جهان
د لته پلني قافلې د داستانونو
دي د دنګو دنګو غرو پر هر دامان
کله حسن د یوسف راسره مل وي
کله اوښکه دیعقوب یمه دمصرپرګرېوان

له کلونو ورته ګورمه او وینم
هر دامان کله زرغون کله ویران
موسمونه دي بدلېږي را بدلېږي
کله وي زرغون سپرلی کله خزان
خوشهباز ددنګو غرونو په الوت وي
خپَرَوي غبرګي وزري پر اسمان
راته ګوري راته خاندي له کلونو
همېشه په سردرو کې وي روان
یوه غاړه راته کاندي کله کله
چي ژوندون یوکاینات دے بې پایان
پکښې چا لره لحظه دسرمستۍ وي
چا له وي پېهم سفر پر بیابان
زهٔ یَکرېم، تهٔیوازي په دې دښت کي
لکه تل چي وي سپین زړي پرجهان
راشه ښکلي نغمې وایو په درو کښې
اوس ګډېږو د وطن پر هر دامان
راشه ستړي ارمانونه د پېرَیو
د کسې پر ساړهٔ سیوري کړو ودان

★ ★ ★



کله تندے کله ځګر وهمه
زهٔ د حالاتو ډول اکثر وهمه

د لېونتوب طبل په غاړه ګرځم
او د دېواله سره سر وهمه

کله له خپلي سایې و بېرېږم
کله شهباز هم په وزر وهمه

د مځکي ګټه یې حاصله نهٔ کړه
وایي ورخېزم ژړی لمر وهمه

د میکشۍ په ادب نهٔ پوهېږم
هسي لاسونه په ساغر وهمه

د مسلکونو په بټۍ کي سوځم
دمذهب پښې دایمان سر وهمه

لېونے و ووت له مورچل نه بهر
وایي ټانګونه په خنجر وهمه

د امن لاره بله نشته مګر
په امن لاره د لښکر وهمه


نور که هیڅ هم کولای نهٔشم باقيِ
شپېلۍ د میني په هنر وهمه

★ ★ ★

# دشهباز وینا

د سارۀ ژمي د سیلۍ په غبرګ کي
د بې بسۍ او بې کسۍ پر سیمه
یَوۀ شهباز راته په چیغه دا وینا کوله
چي خدای دي هرچا ته لاسونه او وزر ورکړي
چاته نازک تن د ایلۍ چاته پنجې د عقاب
چاته اوسیٔغوندي وجود چاته منګولي د پړانګ
چا ته یې دنګه حوصله بخښلې
چاته یې مینه د یار
خو هر یو څیز دے خپل خپل کار لره سم
قدرت ورکړي دي هرچا ته له ازله ډېر څۀ
چاته لفظونه د خېر
چاته غاښونه د شر
هر یو مارغۀ کوي پر خپلو وزرونو باور
خپله یې ببله د الوت سطحه ده

هسي خاطرمانده کوې په جبلت خفه یې
ژوند خو تېرېږي همېشه د متضادو ترمنځ
لکه د حق او دباطل تصور
لکه د امن او دجنګ خبري
لکه دميني اونفرت مسئله
راشه چي يو بل سره ومنو اوس
په خپله خپله دايره کي به ځو
پرخپل خپل ځای به همېشه درانۀ يو
نۀ به تۀ ماته لاره نیسې چرته
نۀ به زۀ ستا په چل ول کار لرمه
راشه چي روغه سره وکړو دواره
د دنګو غرو ښوکي به زۀ سمبال کړم
په پای يې تۀ کره ګلونه دخيال
د وخت په پراخه شان فضا کي به تل
د امکاناتو سمندر لټَوو
ورته به لاره او ګودر لټوو
★ ★ ★



سوړ زمستان دے خاموشي ده اشنا
زړهٔمي ویران دے خاموشي ده اشنا

د کهکشان پر سپینه لاره باندي
پل د جانان دے خاموشي ده اشنا

اور لګېدلے دے زَما په مکان
ویدهٔ جهان دے خاموشي ده اشنا

زما خیالونه لکه ستوري دومره
نیلی اسمان دے خاموشي ده اشنا

د روڼ سهار پر سپین تندي یو امید
سترګی ستومان دے خاموشي ده اشنا

**نور څۀ خو نشته د ادراک پر اسمان**
**تش يو امکان دے خاموشي ده اشنا**

**د رڼا څاڅکي مي د شپې د لېمۀ**
**پروت پر ګرېوان دے خاموشي ده اشنا**

**زَما په مخه دے سفر پر ازغو**
**سترې ارمان دے خاموشي ده اشنا**

**د محبّت دغه دشواره سفر**
**بس يوپېمان دےخاموشي ده اشنا**

**زړۀ ناقرار دے ، انتظار دے باقيِ!**
**نوے داستان دے خاموشي ده اشنا**


★ ★ ★

# سپرليه

راځه راځه اې مستانه سپرليه!
په سرو ګلونو ښايسته سپرليه!
راشه زموږ وطن ته راشه کنا
راشه زموږددامان حال وپوښته
دلته خزان دے له پېړيو مېشته
پکښې ورانېږي د ګلونو مسکن
دلته طوفان پسې طوفان رادرومي
د تاريخ نخښې دوړوي تېرېږي
دلته ناورين پسې ناورين دے روان
د اساطيرو وَدانۍ ورانَوي
دلته تېرېږي يبلي پښې زلمي پرماتو شيشو
د پېغلو شونډې چاودي چاودي ښکاري
ماشومان ګرځي بې لباسه دلته
تورسري شولې د دېرو سرتوري
وطن دے لاندي د دوران تر ژامو
دي پکښې ناستي غلي غلي هيلي

لابه تر څو وي دغمونو سلسله سپرلیه
تر څو به پایو د ګلونو په وعده سپرلیه
لږ مهربان شه پر دې دښت د بلا
د عداوت کړې ناوې ومینځه
دخوار وطن پر دنګو دنګو غرونو
زرغون څادر دمیني خپور کړه بیرته
ګوندي بدلي شي غمګیني نغمې
دپکتیکا د دې غمجني فضا
ګوندي بدل شي دسازونوآهنګ
دتوپو شور او د مردکو ترنګ
د مردنګ ضرب بدل شي
د شپېو تال بدل شي
د تاندو لښتو سلګۍ ودرېږي
د ماشومانو رنې اوښکي تم شي

★ ★ ★



ځوک وایې درد دې جانان ځوک وایې درمان دې جانان
زما د دواړو سترګو تور زَما وجدان دې جانان

کله ګوښه وی د وریځی په پلو کی وي پټ
کله د خیال په پلوشو کي ګرېزان دې جانان

چی په معنا یی زهٔ پخپله هم ډېر کم پوهېږم
زما د ژوند د فلسفې هغه عنوان دے جانان

فقط تو پیر دې د نظر په نېز د اهلِ نظر
چا له درشن د کلیسا چا له یزدان دے جانان

ترخو چی لري وي نو ناست وي د زړګی پر ګودر
چي را نزدې شي د صبا په ځېر روان دې جانان

جمال د یار ښایی په عطرو معطر دے د عشق
دوا د زړهٔ او د زخمونو مي درمان دے جانان

دے د ادراک په آینه کی تر آفاق هم اوچت
کنيې یو ساز دے دفطرت ښکلے ګمان دے جانان

کله تصویر د تصور کله وي زخم د زړهٔ
کله مي سترګو ته ولاړ لکه انسان دے جانان

تهٔ وایی هیڅ نشته زما او ستا تر منځ زړګیه!
زهٔ وایم هر کله زَما او ستا تر میان دے جانان

هیلي یقین او محبت یيې ټول پر غولي اوسي
منم باقيِ! چي ګران ترځان او تر جهان دے جانان

★ ★ ★

# یوخاموش غوندي آواز

یو احساس راسره مل دے
په دې دښت کې له کلونو
یوخاموش غوندي آوازدے
له پېړیو ، د وختونو

ازانګې دي ازانګې دي
د کسې په سر درو کې
داستانونه پکښې ځانګي
د تېر شویو مهالونو

کله چیغي د بېګا دي
په دې بې پایانه دښت کې
کله ساندي دي د پېغلو
د پستو پستو روحونو

کله غاړه د ملالي
پورته کېږي له مېونده
کله غږ دے د غني خان
د زلمو زلمو خيالونو

کله شرنګ دےپه فضا کي
د احمد د مستي توري
کله شور دے په دېرو کي
د پردو پردو فوځونو

کله سېل د کوتانانو
په ګډا ګډا تېرېږي
کله غشي باندي اوري
د بې رحمه موسمونو


پلني پلني قافلې ځي
د جرس غږا يې اورم
ميني کوچ کړي له وطنه
د سپينغر له دامانونو

نۀ پوهېږم چرته درومي
له دې خاورې سرودونه
چرته ځي خوارۀ سازونه
د دې ښار له محفلونو

زۀ خاموشه سرفروشه
لا ولاړیم په دې دښت کې
یو خاموشه آواز ولې
ما په پاښو د ګلونو

دا آواز د سرمستۍ دے
یوه بېله شان نغمه ده
زَما پنګه د ژوندون ده
اساسه ده د وختونو

★ ★ ★



**دسرمستۍ په کیف اوحال پوهېږم**
**هم په آهنګ اوهم په تال پوهېږم**

**زهٔ د سکوت په ګفتګو بلد یم**
**او د فطرت په هر کمال پوهېږم**

**کله خوشبو کله خمار لټوم**
**په فن د شعر د مهال پوهېږم**

**د شهبازانو په الوت آګاه یم**
**په چل د کښیو د غزال پوهېږم**

**څوک به لازم پکښې بندي وي چرته**
**ستا د کږو ذلفو په جال پوهېږم**

ستا د نظر په انتها خبر یم
ستا د هر غشي په کمال پوهېږم

د نړېدلو دېوالونو د کور
چي خومره تاته دے ملال پوهېږم

نور طوفانونه به لا هم تېرېږي
ښهٔ په ګردش د ماه و سال پوهېږم

دتږي سترګی به یې دید ونهٔ کړي
په خوی دښکلیو دجمال پوهېږم

کوَم افسوس د قباوالو پر حال
هم په عروج هم په زوال پوهېږم

د طوفان مخه په هنر نیوای شم
ښایي په ژبه د شمال پوهېږم

زهٔ مینه وال د زړهٔ په حال خبر یم
ستاپه خوښیِ ستاپه ملال پوهېږم

تیارهٔ یی ومسَوی نور تازه شی
د بخت د ستوري په هر چال پوهېږم

یم نابلده د موسم په مزاج
خوپه الوت دښکلي خیال پوهېږم

دانتظارشېبې شوی دومره اوږدی
چي اوس په خم نهٔ په وصال پوهېږم

هم د خوشبو په ژبه پوهـ یم باقيِ!
هم د نسیم په خدوخال پوهېږم

★ ★ ★

# سندرغاړي ته

[مېرمن قمرګل ته]

اې سندرغاړي د دامان ګل افشان
نغمه سرا روان دوان ګل افشان

تهٔ ازانګه د دنګو غرونو د ساز
یې په الوت د تخیّل د فضا
لکه جرس وي پر صحرا دجنون
د شالېلا د یو کاروان ګل افشان


تهٔ شاپېرۍ د خراسان د درو
خوره وره یې داحساس پراسمان
لکه شهکار د تصور د فنکار
لکه یوځانګه دایمان ګل افشان

تهٔ لکه خوب د يو رنګيني دنيا
لکه سرود د ناليدلي ديار
تهٔ پلوشه يې په تيارهٔ کي د غم
يوه قصه يې د ارمان ګل افشان

تهٔ ولوله يې د سمسوري ځوانۍ
ښکلی منظر يې د بهار د ناوې
شرنګ د پازېب يې د وفا د محفل
خوږه نغمه يې دجانان ګل افشان

ستا په تالو کي دے رباب د فطرت
که دي په غاړه کي دے روح د پرۍ
زهٔ نهٔ پوهېږم چي تهٔ غږ يې دوخت
که معجزه يې د يزدان ګل افشان

★ ★ ★



د ځراغونو تر رڼا پوري مې پرېږده اشنا
دستر منزل تر خواوشا پوري مي پرېږده اشنا

زهٔ لا دتورقسمت په توروتورو شپوکی ورک یم
د روڼ سهار تر ابتدا پوري مي پرېږده اشنا

نن د ښهٔ ژوند تصویر پر پاڼه د سبا جوړوم
مرګیه تم شه تر سبا پوري مي پرېږده اشنا

هر سړي ځان لره ټاکلی یوه بېله لاره
د سمي لاري تر ښکلا پوري مي پرېږده اشنا

زما وجود دے د بارودو په لمبو سوځلے
د زړهٔ د زخم تر دوا پوري مي پرېږده اشنا

یوه سپوږمۍ په تخّیل کی جوړوم لګیا یم
بس ددې خواري ترځلاپوري مي پرېږده اشنا

ځم ماتومه غبرګ لاسونه د بی رحمه قاتل
زهٔمظلوم مل یم ترباچا پوري مي پرېږده اشنا

هسی خو تهٔ یی بد ګمانه همېشه له مانه
د ښهٔ نظر تر ابتدا پوري مي پرېږده اشنا

د زورور په مخکی غر وي د کمزوري صدا
زهٔ غرڅنې یم تر غوغا پوري مي پرېږده اشنا

هسي هم خلک لېونے لېونے بولي باقيؔ
د لېونتوب تر انتها پوري مي پرېږده اشنا

★ ★ ★

# ښکلي انجلۍ!

ښکلي انجلۍ زموږ دکلي انجلۍ
د پکتیکا اې نازولي انجلۍ!

تهٔلکه خیال دژوندانهٔ دفسون
زما پر ذهن په الوت یې
لکه رنګونه د بریښنا د سپرلي
زماترسترګوسترګو کیږې همېش


زما د فکر پر اسمان پیوسته
لکه پیکر د آفاقي مصوّر
زما په روح کې آویزانه یې تهٔ
لکه انځور د تصوّر د شاعر

ستا پرتندي باندي توقير دوطن
ستا پر خېره باندي څادر د حيا
تهٔ ښايسته يې د جنت تر حوره
د کوهِ قاف تر نازنيني پرۍ

دخيال مارغهٔمي په سفرډې روان
د يوهٔ نوي ناليدلي جهان
وينمه خوب د يوهٔ روڼ سباون
څکه دي سترګو ته په مينه ګورم

په سپل دښکليوکې ترټولو ښکلي
سپيني کوترې! د مرمرو د دېس
د لاشعور پر بام مي کښېني آخر
لکه انجام د افسانې د څوانۍ

★ ★ ★



نهٔ په سپوږمۍ باور لرو او نهٔ په ستورو باور
موږساده‌ګان په توره شپه کړو پر شبکورو باور

یوهغه خلک چی کورونه مو سوځله په لاس
یو هغه خلک چي همېش کوو پر نورو باور

ځان فراموشه ښایـی ونه کړي غوټۍ پر وطن
وطن فروشه به لا نور کړي پر سمسورو باور

په ښار کی یوهم سلامت نهٔدے مینار دجمات
ځکه چي موږ کوو زیاتره پر سرزورو باور

سترګی د چا پر تندي باندي ټیکانه نهٔ لري
چرته چي ونه کړې اشنا په سترګو تورو باور

**تا پرتندي اوس تک وهلی ده سپوږمۍ داسمان**
**تهٔبه نوڅهٔکړې دګرېوان په سپینوستوروباور**

**راشه پخپله یې پخلا کړو دوطن سورسترګی**
**نهٔ په شنو سترګو بروسه او نهٔ په بورو باور**

**څومره تضاد دے ددې خلګو په یقین کې باقيِ!**
**یو کړې پر ډکو پیمانو بل پر نسکورو باور**

★ ★ ★

# باران

هسي توره وربځ راشي
یوې خوا نه تصور کې
را وربږي   را وربږي
ترې باران د ګمانونو
ورسره ورسره  خرک شي
د برېښنا د تاندي لښتي
پرې  راپرېوزي
ترې  راتاو شي
نیلۍ اسپه د شعور مي
د فکرونو په ځنګل کې
د خیالونو په غبار کې
شي راګیرلکه ګرداب کې

بیا د شوخي تنا غبر شي
د اوو غرونو وشاته
شي رابره له اطرافو
یو طوفان د مستو هیلو
خړه پړه فضا بېرته
را صفا کړي له غباره
نو را پورته کړم شپېلۍ زۀ
د سپرلي سور پکښې ول کړم
د شېبو غبار ته شاکړم
د سپین غر پرښي ته کښېنم
کاڼو بوټو ته یې ګورم
خوشالېږم خوشالېږم
ښۀ نرے نرے باران وي
یخه یخه هوا درومي
د ځلاند سبا په هیله
راپاسېږم او مسېږم

★ ★ ★

د ښار حاکم د ورور وَژنی سلسله جوړوي
زَما پر قبر د مرمرو مناره جوړوي

سل ځله زېم د مځکی ګوري او پرتل یی کوي
هغوی چي ښار د سمندر پر کناره جوړوي

ښايی دلمرله توښه هيڅ هم خبر نۀ وي ياران
داچي سايې ته سره ناست دي غباره جوړوي

زۀ د رڼا د پاره ستوري او سپوږمۍ ښکلوم
دوی په تیارۀ کې دسرو زرو خزانه جوړوي

زلمی په دي سپېره صحرا کی سمندر لټوي
بچي له خپلو خړو شګو فواره جوړوي

**دا چی دیوال ماتوي هغی بلی خوا ته ګوري**
**د قتل ګاه نه د وتلو دروازه جوړوي**

**د رقیب کور ته یَوه ببله غوندي لاره ګوري**
**زما جانان د تیروَتني بهانه جوړوي**

**زمور په وړاندی دژوندون فقط تراخهٔدی پراته**
**دوی وایي نوش یې کړئ چي ذهر حافظه جوړوي**

**که په لستوني کي زما ساتي ښامار نو څهٔ دي**
**باقيِ د هر قسم بدمرغه مار هوده جوړوي**

★ ★ ★

# مشوره

راشه زر او زور ته شا کړو
شوق دتېل او طِلا پرېږدو
اوس آزاد کړو بندي زړونه
له غباره  د وختونو
راشه اوس نوجنګ تمام کړو
اوښکي پاکي کړو د خوېندو
د تور سرو او سپین سرو،
دسلګیو مخه ونیسو په ګډه
راشه سپینې اوښکې تم کړو
د سبا په رخسار باندي
چرته ومسوو تاندي لښتي
د جنت  د دنګو ونو

راځه دواړه د ښکلا په لور روان شو

د خوند خوند نغمه په ګډه سره تاو کړو

په یوځ قدم به درومو د ریښتیا په سفر باندي

په یوځ انداز به اوړو دفطرت پرمردنګ باندي

د زرین خیال پر براق به

چرته بر دیار ته لاړ شوو

د احساس پر دښت به ناځي

دځوانۍ سپېځلي هیلي

د ژوندون تراخځ به ورک شي

د وختونو په بهاو کي

راځه دواړه د سبا مهار په ګډه

سره ونسیو روان شو

د شېبو په تورو شپو کي

په یو بل سفر دمیني

د سپوږمۍ لمن نیولې

نا معلوم منزل ته درومو

**د دې ستورو په منځ منځ کې**

**چرته بل جهان ته لاړ شو**


**هلته چېرته آفاقي اتڼ چالان کړو**

**په ګډا ګډا د مینې مېدان تود کړو**

**چې دلمرشغلې خپرې شي هري خوا ته**

**ترې نه وتښتي تیارهٔ او روڼ سهار شي**

★ ★ ★



له خپل وطن نه د پرَدو د جنګ د پاره وځی
څومره ساده دي د مرګي سره په لاره وځي

بیا به نوڅوک خپله ښېره په خپلو سترګو ګوري
نن که په تاخت زمونږ له کلي نه هینداره وځي

د مرګی وار ورته خطا وي پرې ړنده وي بلا
تردې کلام لاندي چي هر سړے درې واره وځي

آه بې اثره، اوښکې تم شوې، بې نوا شو فغان
اوس به لازم د وفا اسپه له غباره وځي

ګوره زلمی بیا د نامرده مرګی ملا ماته کړه
ګوره دښمن په ییلو پښو زمونږ له ښاره وځي

ژر به تور مخی له وطنه ښوري سترګی درومی
لکه چي غشی د ویشتلي له پرهاره وځي

د زورور سره خو جنګ د مجبوری اقدام وي
اول به لار ورسره باسو که څۀ لاره وځي

خدای دي نو دلته هغه وخت کله هم نۀراولی
چي څوک به بیا په ډکو سترګو له دیاره وځي

یو روایت زموږ د خلګو راروان دے باقيؔ!
خپل عداوت سره ساتي جنګ ته په ناره وځي

★ ★ ★

# ژوندون

یو یاداښت د پرونۍ خوږې نغمې دے
یو پاڅون د ځواني مستي ولولې دے
یو بهاو دے د څپاندو غورځنګونو
یو لښکر دے د بې شمېره مرادونو
یو اتڼ د پېغلو هیلو دے چي ناڅي
یوامیدبس د راتلونکي پسرلي دے
خلک وایي څـۀ ژوندون دے
د فطـرت سـره سمون دے
چرته جنګ چرته وراشۀ دے
چرته غم چرته وادۀ دے
خو ژوندون افسانه نۀ ده
دخپل فکر ازانګۀ ده

★ ★ ★

لاس د اشنا ونیسه په مینه لاړۀ وباسه
تهٔ به یې تر خو پوري غمګینه لاړۀ وباسه

سترګی دسپوږمۍ په لارکی بی حجابه مهٔپرېږده
پرې یې ږده چي تېره شي مسکینه لاړۀ وباسه

هر کله زما او د اشنا تر منځ رقیب یی تهٔ
ورک شه له پهلو نه لونګینه لاړۀ وباسه

تهٔ که د رڼا یی معتقد نو بیا ډارېږه مهٔ
څه د شپې په منځ کي هم زرینه لاړۀ وباسه

بد ګمانی، بی پروایی، بېکران غرور تر څو؟
رنګ دي کړله مځکه په سره وینه لاړۀ وباسه


جنګ د اړي حل نۀدے سبب یې دے په هرحالت
حل د شخړي وګوره په ور ینه لارۀ وباسه

تۀ وایې چې زۀ یمه او زۀ وایم چې زۀ یمه
داسي به نو څۀ شي سره سپینه لارۀ وباسه

اوښکې، انتظار او دا کړې کړې زنجیر د دار
لري کړه له منځه، یو ریشمینه لارۀ وباسه

خپل به درته خپل ښکاره شي بل به درته بل باقيِ!
کښته شه د بل د آس له زینه لارۀ وباسه

★ ★ ★



تـوري تیـارې لـره رڼـا واخلـه
یو نـصیحت لـه کـربـلا واخلـه

دلتــه وطـن د افغـانـانو دے
قدم په ویاړ او بسم الله واخله

د چا تر سر تېر شـه فنا يې کړه
د چا ترسر جا ر شـه بقـا واخله

خدای به دي خاوره مرغلري کړي
له ستورو چل زده کړه رڼا واخله

رنګ او خوشبـو د پســرلي ګوره
اې خزان بختـه! تـرې ادا واخله

حق که دے دا چي ترې قربان کړه ځان
حق خو دا هم دے چي دوا واخله

مات کړه د جبر او نفرت ټول بتان
مینــه په مینــه له دنیـا واخلـه

د چا زخمـونه کــړه صفـا باقيِ!
د چا د ســرو سترګو بـلا واخله

★ ★ ★

# څوك خو دے

څوك خو دے چي تصوّر ته
ورکوي غبرګي وزري
ویښوي په لاشعور کي
د جنون مستي سندري

څوک خو دے چي ورباب ته
آهنګ ورکړي ژوندون ورکړي
محفلونه پرې مسرو ر کړي
خمار ورکړي افسون ورکړي

څوک خو دے چي و آواز ته
قوت ورکړي د فوځونو
لړزوي لوړ ایوانونه
د وفا په خو لفظونو

څوک خو دې چي سَړه وینه
په رګو کي تودوي ځي
د ځوانۍ تاندي او مستي
ولولې راویښوي ځي

څوک خو دې چي لاره ښَئي
په څپو کي د وختونو
مخه اړَوي له خلګو
د بې رحمه طوفانونو

★ ★ ★

غبرګي پښې دواړه لاسونه راتړي وایـي انصاف دے
د تقسیم په خنجر جسم را وېشي وایـي انصاف دے

وخت ظالم دے هسي درومي نۀخۀ ګوري نۀیـې اوري
د شهباز بچي کارګانو ته سپاري وایـي انصاف دے

دواړي سترګي دي ړندې شوې د تور مخو په تورکښو
پښتني! دوی دي پلو پورته کوي وایـي انصاف دے

هسي تلونکي او راتلونکي دې موسم ته په حېرت یم
تاندي لښتي شکلوي بیا یـې رېبي وایـي انصاف دے

که وزري مي زخمي دي د پرواز امید خو شته دے
هسکه غاړه په تسلیم راکوزَوي وایـي انصاف دے

د جنت خواهش دي خومره شو سرتېره مروره
سپين ايمان درنه په لپو لپو وړي وايـي انصاف دے


د پرون راګ راته اورَوي ما وژني په سرور کي
د تقدير په مراندو زامي را تړي وايـي انصاف دے

که محفل کي شمع نشته زما زړه خو دے بل پاته
يار لا نور هم انتظار په ما کوي وايـي انصاف دے

د اغيار د پېغور غشو مي زړګی پاره پاره کړ
وخته ستا د ستم راګ رايادوي وايـي انصاف دے

د ځوانۍ مستي شپېږ مي طوفانونو سره لاړې
باقيِ! شيخ لا دعذاب ډول غږوي وايـي انصاف دے

★ ★ ★



دومره واټن دے له سکوته تر ګفتاره پوري
لکه چي اوښکه ځي لېمهٔ نه تر رخساره پوري

زهٔ اندېښنه یمه پرته چرته پر لاره د قېس
لېو نے خیال مي کله کله وړي تر یاره پوري

شورش د زړهٔ د سمندر د څپو ژر به تم شی
که یـي څوک پرېږدي پر قراره تر قراره پوري

د اقتدار په جنګ کی مهٔ بندوئ لاري د ښار
ما مَین پرېږدئ رسَوم ځان تر دلداره پوري

یم لکه پرښه پېوسته چرته دوخت پر غونډۍ
نهٔ تر صحرا پوري ورتلای شم نهٔ تر ښاره پوري

**نۀ په ملا باور لرم او نۀ پر خان مَئن یم**
**زما تړاو دے همېشه تر خپله کاره پوري**

**نۀمی خوک سرراخلاصوي اونۀ پرې زۀ پوهېږم**
**دوی وایـي عشق رسوي خلګ تر باداره پوري**

**زما د ښار د بربادۍ غونډه قیصه خو *باقيِ*!**
**یوه لحظه د سور شپېلۍ وه تر غباره پوري**

★ ★ ★

# خوب


**د سپین غرپه سردرو کښې**
**یَوه چیغه لېونۍ ده**
**یو آواز دے د ملالې**
**یَوه غاړه پَرونۍ ده**
**هـر وګړي سر په لاس کې**
**وایـي "اې زما وطنه"**

**یَوې خوا ته یـې ولاړه**
**یَوه ونه پخوانۍ ده**
**یو سپینږیری ورته ناست دے**
**یَوه څانګه ماته ماته**
**یې په لاس کې ده تړې یـې**
**وایـي "اې زما وطنه "**

بلي خواته یَوه پېغلــه
د خېمې پړې ته ناسته
د دوران په ګړزو خړه
يـي هينداره د ځوانۍ ده
لېونۍ ده    لېونۍ ده
وایـي" اې زما وطنه"

د دوی خنګ ته په خاشو کښې
یَوه بېله شان ډېوه ده
د هوا مخې ته بلـه
ماشومان وربانديې تول دي
په خندا دي په ګډادي
یوپاکوب دے، ښایـي خوب دے

★ ★ ★



جمات مات دِے حجره ورانه راشه جوړ یې کړوجانانه
ګیله مۀ کوه له چا نه راشه جوړ یې کړو جانانه

زړۀخوزړۀدِے وي مات شوی به خودښایي په خطاکې
کله مانه کله تانه راشه جوړ یې کړو جانانه

د خلوص له ښاره تښتي د وفا له نامۀ ځغلي
خلګ ډېر دي بد ګمانه راشه جوړ یې کړو جانانه

نۀ زما ملګري مات شول نۀ مو تاسي شاته بوتلاست
راشه بس به یې کړو ګرانه راشه جوړ یې کړو جانانه

نۀ په ښارکي مواوتاک شته نۀځنګل کي اوسېدای شو
کلي ړنګ دي، سیمه ورانه راشه جوړ یې کړو جانانه


دا زما او ستا د ورونو را روانه ورور وژنه
لا تر څو به وي رَوانه راشه جوړ یې کړو جانانه

دا وطن په دوی آباد دے دا ګلشن په ښایسته دے
خلګ مۀ شړه له ځانه راشه جوړ یې کړو جانانه

یو اثر د محبّت وي یو تړاو د میني هم وي
وزي چرته له ګمانه راشه جوړ یې کړو جانانه

د احساس په ښار کي نوي محلونه د خیالونو
راشه ښکل کړو باقيِ جانه! راشه جوړ یې کړو جانانه

★ ★ ★



بیا اور پُو کې دعا غواړي
زر بې زیاره له چا غواړي

زړهٔ یې تور لکه اورتون دے
لباس سپین او صفا غواړي

د ځوانۍ پر درشل هسي
زړګی نوې هوا غواړي

دے په هوش کې ښایې نۀ وي
چې له ښکلیو وفا غواړي

دا وګړي وطن وال دي
له بلاوو شفا غواړي

عشق له حاله خبر نهٔ دے
له جما له ثنا غواړي

لیونتوب یې په مغزو دے
شراب غواړي رَوا غواړي

باقيِ هر څو که دانا شي
له ملګرو صلا غواړي

★ ★ ★

# دپیریانو اثر

دا زۀ چا یمه تړ لے
د ګسې په سر درو کښې ؟
ولې شکېل یم له ازله
د تقدیر په زولنو کښې ؟
دا زۀ څۀ رنګه کردار یم
دفطرت په افسانو کښې ؟
ولې اې بـره اسمانه!
زۀ الوت کولاې نۀ شم ؟

خبر نۀ یم دا ژوندون دے
که دے جبر د وختونو
دا رڼا ده که غبار دے
د بې رحمه طوفانونو

هره خوا ده خړه پړه
هر منظر د سېلابونو
هر طرف ته يو تورتم دے
څۀ پر مخ کتلاې نۀ شم

خو اسمانه! بې پايانه!!
ما دے ټينګ اساس ترلے
اوس به غورځم اوس به پاڅم
پروت به نۀ يم لکه خلے
اوس به شکېل شلَوم په ډاګه
نور به نۀ يم لکه څلے
پر دې مځکه د پېريانو
نور اثر سَهَلاې نۀ شم

★ ★ ★

کوم پښتون کوم مسلمان او کوم انسان يې
خپل ګرېوان درته څهٔ څهٔ وايې حېران يې

څوک هيڅکله ځان نهٔ وژني، وژني درد خپل
که دي درد د چا احساس کړ نو کامران يې

هيڅ بدلون دي په خمير کي ښکاره نهٔ شو
چي په کوم حال کي پخوا وې هغه شان يې

تا خو نهٔ منله دا چي دسيسه ده
اوس نو ناست يې پرېشان يې سرګردان يې


توري ذلفي دي سنبل ، سترګي نرګس دي
تهٔ په خپل ځان کي سپرلے يې،ګلستان يې

ته عظیم یې هم رحیم یې هم کریم یې
له ما پرته پر هر خلي مهـرَبان یې

پسرلے خو هسي تېر شو تا و نهٔ لیـد
ځوانیمرګه ! تا ته چا وَیَل چي ځوان یې

نهٔ زما وجود باقيِ دے نهٔ تهٔ پایـي
زهٔ لوګے یم ته غبار د دې کاروان یې

★ ★ ★



**انتظار دي کله دومره مستی راوړي خمار راوړي**
**چي مي ډکي پېماني شي د دردونو قرار راوړي**

**اندېښنی می کله کله د زخمونو رنګ تازه کړي**
**دفکرونو موسم سم کړي غزل راوړي ګفتار راوړي**

**موږ په دغه شان ټولنه کی اوسېږو له ازله**
**دچاسرنهٔوي روان وي څوک په پښوکي انکارراوړي**

**دزلمي بچي انځوروي دسپين سري مورپه غېږ کی**
**ښار ته ژوبل وجود راوړي لاعِلاجه بيمار راوړي**

**د قامونو ژوندون څهٔ دے؟ حرکت دے د وګړو**
**لکه جوش چي په درياب کي دموجونورفتار راوړي**

هرمنظردبېګا تش یو ګمان ښکاري اټکل ښکاري
خو آثار د زمانې مې پر تاریخ اعتبار راوړي

هیله ژوند دے، همت لاره د سفر، یقین منزل دے
مینه ډکه پیمانه ده که یې څوک هم په کار راوړي

په ګډاچې وي هرچیري مستی ښکلی تاندي لښتی
خدای به هغه سپرلے بېرته پرسوځلي ګلزار راوړي

عقلمند دي په دنیا کي بې شماره ، دردمند نشته
خو دوا دخوږمن زړۀ به باقيِ! خپل غمګساررراوړي

★ ★ ★

# بیره دشیطان

راځئ له کڅیو نه دیبـان وشـړو
امن په وکـرو یا غیـان وشـړو

وطن ګلـزار کړو د جنت په مثال
له سپیني خاوري نه زاغـان وشـړو

اسمـان یـې ډک کړو دبې شمېره ستورو
ترینځي تـرې لـري کړو، پېریان وشړو

د میني کښت وګـرو هـري خوا تـه
مځکه هـواره کړو لېـوان وشـړو

راځئ چي خړوطن سمسورکړوبېرته
راځئ سپرلے جوړ کړو خزان وشړو

**راځئ چي مستــه کړو فضا د وطن**
**راځئ چي ټول جنګ پرستان وشړو**

**راځئ رقیب ورک کړو ، عدو وشړو**
**راځئ دښمن د خپل جانان وشړو**

**راځئ چي پیغـلي هیـلې ومســوو**
**راځئ چي بېــره د شیطــان وشــړو**

★ ★ ★

**ګوره! توپک ز یاته ایږدم، اوس له دې کلي نه ځم**
**زهٔ چرته مینه لټَوم ، اوس له دې کلي نه ځم**

**چرته چي سُر د آهنګ سم ښکاري د تالهٔ سره**
**هلته سندري غږَوم، اوس له دې کلي نه ځم**

**دلته به څهٔ وکړم اسمانه ! یا به مرم نا حقه**
**یا به کورونه ورانَوم ، اوس له دې کلي نه ځم**

**د دې ګونګۍ میني اظهار به نن په ویاړه وکړم**
**تانده غزل وړاندي کوم ، اوس له دې کلي نه ځم**

**چرته چي نهٔ راځي مرګے، چرته چي نهٔ وي ژړا**
**هلته به کور آبادَوم ، اوس له دې کلي نه ځم**

چرته چي تل وي پسرلے، چرته چي اوسي ښکلا
داسي ټاټوبی جوړوَم اوس له دې کلي نه ځـم

بېرته به هم راځم جانانه! داسي نۀ ده چي زۀ
مینـه او وینــه هېرَوم اوس له دې کلي نه ځم

د لېونیۍ میني قِصه ، د جنون پاته افسون
به دلتــه چا ته اوړوَم اوس له دې کلي نه ځم

وراني حجرې دي جمات مات کوڅې سپېرې دي باقيِ!
تر څو به زړۀ ایسارَوم اوس له دې کلي نه ځم

⋆ ⋆ ⋆

یو طرف ته پاڼ دے بل ته پړانګ ورته غړېږي
څۀ وکړي افغان یا خو به مري یا به جنګېږي

نۀ د شپیلۍ غږ زړونه تاوده کړۀ نۀ رڼا شوه
مینه لېونۍ ده، لا مسیږي لا نخیږي

بې خماره خُم دے د بې وزله سړي مینه
بې مقصده ژوند لکه هوا غوندي تېرېږي

بل نۀ شوخراغ نۀ منظرونه پرې روښان شوۀ
آغه شان تورتم دے او هغه هوا چلېږي

نۀ مینه خپره شوه نۀمحفل پرې جوړتپان شو
نۀ رباب تازه شو نۀ مطرب باندي څنګېږي

تا لـره انصاف خو ما لـه جبـر د حالاتو
لاره نـۀ د سولي نـۀ د تېښتي معلومېږي

راشـه سپېلنے غوندي لوګے خو ترې وطن شـه
هسي دي دنيـا نـۀ خپلوي نـۀ رضـا کېږي

تال دژوندانۀ دےهر يو ضرب يې زړۀ ته رسي
زړۀ ځکه په تال دے باقيِ جانه ! لا درَزېږي

★ ★ ★

# کور

ږنګ نۀ شو وَدان شو، لږ روښانه او لږ ښکلے دے
مخکي د میروېس وړوکے کور ۀ خو اوس کلے دے

څوک وایـي چي چُور به کړي ملت دافغانانو څوک
څوک وایـي چي چرته د پښتون کور چانیولے دے ؟

نقش یـې د ډاګونو او دښتـونو همـاغـه شـاني
کلک په خیر دغرونو، له کلونوخدای روزلے دے

ښکلي سـردرې یـې له جذبو او ولـولـو ډکي
ستر یـې نوم او ننګ دي، ترجهان یـې سروتلے دے

سـر یـې نۀ ټیټېږي د ظالم په وړاندي کلـه هم
ځکـه د چنګېـز او سکنــدر د ښـو خلے دے

ډکه د ښکلا او د حیا غریځه سیمه ده
حوري پکښې ګرځي د غِلمانو پکښې کلے دے

غاړي د مېراني پکښې هري خوا ته کېږي تل
ناځي پکښې ویښ زلمي دپت پکښې جوړځلے دے

هر یوهٔ مظلوم ته یې پناه ورله ورکړې ده
پړانګ یې همېشه له خپلي غېږي نه شړلے دے

خدای یې د بقا ضامن دے قام یې د دفاع *باقيِ*!
هر یوهٔ غاصب وربانديِ بیا بیا ځان کټلے دے

★ ★ ★

[دټپې د لومړۍ مصرعې په وزن کې]

**لږ خو صفـــا راتـــه منظـــر کـړه**
**ورك يـــم پـــه لار مې بـرابـر کـړه**

**يو مې يقين بل مې مړونـد دے**
**ړوند پرې دُښمن، پټ پرې خنجرکړه**

**هـــر زوَرور مې نيســي مخـــه**
**تـــر زوَرو ر مـي زوَرور کـــړه**

**د ښــار لـه قېـده مې آزاد کـړه**
**مـا د دښتـــونو مسـافـر کـړه**

**هسي مجنون غونـدي مې پرېږده**
**هسي صحـرا وتـه مې تــر کـړه**

سر به ښندم تېښته به نه کړم
په دغه قَول مي باور کړه

غمېزي کلو کي مېشته شوې
باداره اوس نو پرې اختر کړه


سجده خو ستا مخي ته ښه ده
ورك د باچا ترلے در کړه

بیا چنګېزي لښکر ته وځم
خدایه آسانه مي سفر کړه

راشه چي روغه سره وکړو
بس پَلټون د خېر و شر کړه

باقيِ له اصله غلام نهٔ دے
تر غلامانو يې بهتر کړه

★ ★ ★



د وطن غمیزي ګرانه ! راشــه پرېږدو
تېروختونه ټول جانانه ! راشــه پرېږدو

توره شپه وه ، توره شپــه ده لا تـراوسـه
دا بحثونه اوس، نادانه ! راشــه پرېږدو

خـراغونه خواوشـا راشــه چي بل کړو
د دښمن محل روښــانه راشــه پرېږدو

زمـانـه زموږ پخوا کله په خوا وه ؟
امیـدونه له جهانـه ! راشــه پرېږدو

پکې سوځو تـاندي لښتي دُودَوو یـې
دا دښتونـه اوس اسمانه ! راشــه پرېږدو

زهٔ د للمي باد هم یم تږی پرې اېښی
د سېلاب ګمان بارانه ! راشه پرېږدو

زهٔ به ستا ګرَمي تر شاکړم ته مي خپل کړه
عَداوت دومره اسانه، راشه پرېږدو

یو ماشوم خیال دے وماته راشي وایي
تُهمتونه باقيِ جانه ! راشه پرېږدو

★ ★ ★

# تورتم

اساطیـرو کې یـو چا کړې ښېـرا وه
چي”ورځه ورځه تر تـوره تیـارۀ تېر شې
د بـلاوو پـر وطن تــوره بــلا شې
د پېریانو په ګیر ورشې لـه ما هېر شې

چي د اور د پـاســـه اور وورې پـه هسې
یـو تـورتـم کې تـر ابــده پـورې اوسې
چي دې تل په هرلستونې کې ماران وي
په همدغه شان عذاب کې هورې اوسې“

ښـایـې دا ښېـرا قبـولـه اهرمن کړه
ځکه اوسم لا تر اوسـه په تورتـم کې
ښایـې اور د پاســه اور وورې اورتون کې
او زۀ اوســم د هغـۀ اورتـون په شکم کې

نهٔ اسمان شته چي باران را باندي وکړي
نـهٔ سـړه سړه هـوا دلتــه راتـلای شي
نهٔ سکون دلته ممکن دے نهٔ خوښي شته
نهٔرنګین رنګین خوبونه څوک لیدای شي

نهٔ په مځکه کي شتــه نـم چي زرغونهٔ کړي
د وطن پـرښي را غـونـه او ګـوالـونه
نهٔ موسـم د پسرلي شتــه چي ګلـزار کړي
دا سپېـرکي سپېـرکي دښتـونـه او ربګـونـه

خو زهٔ فکـر کـوم دا چي کـه بـلا یـم
نو ملګـرے زهٔ بیا هـم د اهـورا یـم
که یـاغي یـم لـه باطل څخه یاغي یـم
پلـوے د حق د ډلي پـه ریشتیا یـم


او حق دا چي ساندي کوکي او سندري
د نــړۍ و ایـوانـونو ته رسېـــږي
د رباب غږ ته بـه غوږ نیسي دنیا اوس
د آواز پـه څپو زړونـه هـم لـړزېږي

ځکه اوس نوله نظمونوامېلونه جوړومه
په تورتـم کي سبـاوون ته هـرکلے کړم
چي بـلاوي پرې وتښتي لـه وطنـه
هسي غوندي يو افسون تـه هـرکلے کړم

د سپرلي په طمعه ناست يم سره پېيم
دا خوږې خوږې سنـدري دا شعـرونـه
دنسيم لـه ځپوهيله ده چي مست کړي
د وطن سپېـرکي ډاګونه او دښتونـه

زړۀ مي غواړي خپل وجود زرې زرې کړم
پرې يـې و پاشم لـه پاسـه پر دې غرونو
چي ګلونه ترې راشنۀ شي له دې خاوري
او فضـا نغمې نغمې شي د ښــارونـو

★ ★ ★



کلـه ځان سـره ګاییـږم، نـۀ پـوهېـږم
کلـه پټ پټ و مسېږم، نـۀ پوهېـږم

یو اتڼ دے، د جنون مستـه نغمه ده
پرې تاوېږم راتاوېږم نـۀ پوهېږم

ستا لهجه تراخه تر زهرو ده پوهېږم
ستا له سرو شونډو ځارېږم نۀ پوهېږم

په آهنګ کي دژوندون یو داسي لے دے
چي هر کله پرې مستېږم نۀ پوهېږم

کله تا سره په ډاګه په خندا شم
کله خلګو نه ډارېـږم نـۀ پوهېـږم

**تا ویَل چي را ته څله په خَیر ګورې**
**ما ویَل چي نۀ صبرېږم نۀ پوهېږم**

**کله مینه دایمان په شان احساس کړم**
**کله دت شم نۀ پوهېږم، نۀ پوهېږم**

**کله کله زړۀ را تنګ شي هسي ژاړم**
**کله کله و مسېږم نۀ پوهېږم**

**چي روان په بل سفرشم تۀ مي یادشې**
**باقيِ ! بېرته ودرېږم نۀ پوهېږم**

★ ★ ★

نۀ سقراط د زمانې یم نۀ د بېل زمان سړے یم
زۀ باقيِ په خپل وجود کې یو روان دوان سړے یم

خوشبويي رنګه پېکر یم ، ګم ګشته شانتي صدا یم
نا رسا غوندي خواهش یم او ارمان ارمان سړے یم

د ساړۀ ژمي ګلاب یم ، د سیلۍ وړی مارغۀ یم
د بهار د ښکلا یاد یم ، د خزان - خزان سړے یم

لاشعورمي چي راویښ شي احساس وخېږي شاعر شم
چي شعور وته داخل شم بیا حېران حېران سړے یم

په دې دور کې د خوښۍ او کامرانۍ شعار بدل شو
زۀ د یو نظر خاوند پکښې د بل جهان سړے یم

تهٔ همېش د بل په هیلـه زهٔ په طمعه د باران یم
تهٔ د بل فکر والا یـې زهٔ د بېل ګمـان سـړے یم

یم منصور د خپلي لاري تش ریشتا مي وظیفه ده
نهٔ د چا د غاړي توق یم نهٔ پر چا تاوان سړے یم

میني ستا په زړهٔ رنځور کړم، د جنون په ټال ځنګېږم
نا معلوم منزل ته درومم یبلي پښې روان سړے یم

عشق زما نهٔ روایت دے، نهٔ جذبه ده ، فلسفه ده
زهٔ مجنون غوندي کس نهٔیم دفرهادپه شان سړ ے یم

★ ★ ★

# پای لیك

ملګروڅۀ چې مو په وړاندې تېرشوۀ
څۀ چې مو ولوستل لـه دې بیـاضـۀ
څۀ نوے کار، نوے هنر خو نۀ دے
یوحقیقت بس هم دغـومره ښکاري
چې سباوون د تیارې مرګ ته راځي
د یـوۀ څرك سره دُنیا ویښَوي
یو نوے ګام نوے سفر پېلَوي
د نـوي ورځي پلټـون پخپـله
څرک د منزل ورکوي ، ډاډ ورکوي

★ ★ ★